# جام جنون او جانان



خیام یوسفزے

جام ، جنون او جانان

خیام یوسفزے



شـــاعري يو وجداني ملکه ده چې د تخيـل په زور د اولس په زړونو او ذهنونو راج کوي ـ جام، جنون او جانان هم د خيام يوســــــــفزي د سپېڅلي تخيل درنگزار نه کشــيد شوې شاعري ده چې د لوستونکو د جذباتو لوبولو جادوګري او هنرکاري لري۔ د دې شـاعرۍ په لوسـتلو قـــاري ځـــان په يو آيډئيل دنيا کښې محسوسوي ، چرته چې هغه ته د جامونو کـړنګهار ، د جانان غېـــره او جنوني قـــرار د يو بل سره غاړه غټې ليدے شي. جام ، جنون او جانان د معنا ، مقصـــديت او شاعرانه خيـــال نه برجتـه کلام دے ، چې تخليق شوے سمندر پورې دے خو دړد او څړيکې پکښـــې د راپورې اولس رانغښـــتې شوې دي او هم دغه د خيـام کمال دے چې د مســـافرۍ کرب يې د هېـــواد په دړد نۀ دے لۀ پاسه کړے ،دا د خيـــام وړومبۍ هڅه ده او پښـــتـــانۀ وايي چې
" دَ نر ځوي ژړا په ځانګو کښې معلومېږي ".

**ډاکټر عرفان خټک**

**صدارتي ايوارډ يافته**

**ګورنمنټ پوسټ ګريجويټ کالج مردان**

بسم الله الرحمن الرحیم

# جام جنون او جانان

## خیام یوسفزے

ټول حقوق د ليکوال او پښتو ډاټ نېټ وېب پاڼې
پهٔ نوم محفوظ دي

- د کتاب نوم ــــــ جام جنون او جانان
- شاعر ــــــ خيام يوسفزے
مدير اجرايي د پښتو وېب پاڼې
00966567262472 - 03351777712
Khayaam.yousafzai@outlook.com

- مخ پاڼه ــــــ رفعت خټک
- شا پاڼه ــــــ خيام يوسفزے
- کمپوزنګ ــــــ خيام يوسفزے
- پروف ريډينګ ــــــ ګوهر ننګيال
- د چاپ کال ــــــ 2015 مارچ
- د چاپ شمېر ــــــ يو زر
- بېعه ــــــ 200 روپۍ
- خورؤنکي ــــــ همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده

## د موندلو درکونه

- دفتر همېشه پښتو ادبي ټولنه امانده ، ملاکنډ
- يونيورسټي بک ايجنسي پېښور
- پښتو اکيډمي بک شاپ پېښور پوهنتون
- يونيورسټي پبليشرز قصه خواني پېښور
- طاهر بک سنټر شير خانه پلۍ، ملاکنډ
- برېښنايي کتاب ــــ پښتو وېب پاڼه www.pukhto.net <--

# ټرون

**د خپل پلار عاطر یوسفزي**

پۀ درانۀ نامه چې زما پۀ تربیّت کښې یې څۀ
کمے نۀ دے پرېښے -

**د خپل استاد پروفېسر ډاکټر علی خېل دریاب**

پۀ نوم چې زۀ یې پۀ شاګردۍ ویاړم -

خیام یوسفزے

دَ خپل جانانه جنون دا

# سوغات

دَ خپلو درنو ماماګانو

فضل علیم اجنبي ، عبدالحلیم ، نورالامین او صلاح الدین

# ته

چې زهٔ يې دَ بې بدله مينې منت بار يم

خیام یوسفزے

# تمهید

**اِنمَا الاعْمالُ بِالنّیات**

یقیناً چې عملونه پهٔ

نیتونو پورې تړلي دي

حدیث شریف

## د موسیقار شاعر ـ ګلورينه شاعري

دَ عالم آب و ګِل ....... دَ فاني حياتِ مستعار....... دَ فلسفې دَ ترجمان خيام دَ نوم سره پهٔ شناخت مې يوه زمانه اورېدلې ده. دَ هغه دَ خمخانې درو آشامي چې چا هم کړې ده هغهٔ يې دَ خپل بې ثباته ژوند پهٔ حقيقتـونـو خبردار کړے دے. دَ دغې نوم پهٔ اورېدو سره اکثر و بېشتر دَ فکر ملــونې خپل پهٔ خپله دَ هاغه نوموړي ايراني فلسفي او دانشــور شاعر عمر خيام پهٔ لور تاوېـږي . پهٔ دې چې دَ هغه دَ فلسفيـانه افکارو دَ رباعياتو دَ سحر جادو پهٔ ختيزه او لوديزه نړۍ هر چرته دَ زمانو راسې خور دے . هغهٔ دَ ايران شاعر وو ژبه يې عجمي وه . ولې نن چې زهٔ دَ کوم خيام سره مخ يم ...... هغه نهٔ خو ايراني دے....نهٔ توراني او نهٔ يې ژبه فارسي يا ترکي ده ...... هغه دَ خپلې پښتونخوا دَ للمي ګل دے ............ د دې سيمې خيام دے ....... پهٔ دې خاوره زېږېدلے او ټوکېدلے او ګُل شوے دے ....... هغه دَ خپلې پښتونخوا ترجمان شاعر دے



www.pukhto.net

خپل ګردو پېش یې پهٔ نظر کښې دے. فنکـــار دے او خپل دغه فن بې پهٔ خپله مـــورنۍ ژبه سود کړے او څرګند کړے یې هم دے. دَ دهٔ شاعري هم دَ تورو ټکو فنکاري ده . زمونږ دَ دې وختونـو دا شاعر اساساً دَ مینې ترجمان دے ځکه خپل تخلیق ته جام جنـــون او جانان وایي. هم دا یې دَ فکـر و نظر جولانګاه او مېدان دے .......

خیام دَ یـو کثیر المطالـعه شخصیت خاونـد دے. هم حافظِ قران دے او هم دَ صوت و آهنګ پهٔ سفر خرامان دے. د روح او تن دَ تـړون دَ ادراک سره یې دَ دنیـاوي ژونـد پهٔ منزل او مــرام دَ ځان دَ پوهه کـولو هڅې هم کړې دي . ځکه خو دَ روح دَ غزا او دَ تن دَ شعوري بالېدګۍ دَ سُرسار سره یې ځان اشنا کړے دے .......

خیام دَ موسیقۍ پهٔ فني لطافتـونو پوهه او خبردار دے. دَ فکر و نظر دغه صحرانوردي یې خپله برخه کړې ده. هم یې



www.pukhto.net

دَ ژوند دَ سرابونـــو نغمې غـوږ ته راغلې دي او هم يې وړله نخلستانـــونه او سمن زارونه ليدلي دي ....... داسې به څوک خال خال وي چې پهٔ داسې عملي تجربــو به راتېر شوے وي. ځکه زمونږ دَ دې خيام دَ جام دا انفـراديت داسې دے چې پهٔ بل کوم سُخن ساز او سُخنور کښې نهٔ شي موندے کېدے...دَ خيام زيات کلام هم په دغه دوو صداقتونو مستحکم دے.

زهٔ پهٔ خپله دَ موسيقۍ دَ آفاقي هنرونـــو سره تش دَ اورېدو تـر حده اشنا يم ....... دَ دې دَ صوت و آهنک او زېر و بم نه بغېر چې ........... آ هم تش د اورېـدو پورې محـدوده ده . دَ موسيقـۍ دَ فنـــي او هنري ښکلاګانـــو د تجربـې کـران شناوري مې چرته نهٔ ده کړې . نهٔ خـو زهٔ دَ راګ و رنګ يا دَ سُر تال دَ زېر و بم سره اشنا يم او نهٔ مې کله دَ دې دَ عملي او فنـــي ښکلاګانـــو سره څهٔ سروکار لـرلے دے . تش د ستر خوشحال بابا او دَ هغهٔ دَ فرزند صدر خوشحال دَ دووکتابونو دَ "دستار نامه" او مثنوي "آدم خان درخانۍ" تر حده دَ خپلې



www.pukhto.net

روايتي موسيقـــی پهٔ ذکـر اذکــار مې سترګې خوږې شوې دي . دا تر يؤ حده دَ خپل وخت چـــوتاري موسيقـــي وه .دَ رباب ستار او سريندې موسيقی چې پهٔ تېرو وختونـو کښې بې دَ پښتونخـوا پهٔ هره حجره دېره او چوک اتاری رواج وو دا هم هر ځای مانوسه وه او هم هر چاته مقبوله وه پهٔ يو وخت کښې ما پهٔ يو کتاب "سه نثر ظهوري" کښې د ايرانی موسيقـــی يؤ باب هم لوستـــے وو . دَ موسيقـی دغه دوه لارې د بېل بېل انـــداز وې . پهٔ يـوه کښـې دَ آدم خـــان دَ رباب آهنک او بلې د شيراز دَرکن آباد ترنګـونه غـږول . دا دَ صوت و آهنګ دوه جدا رودونه دي .....يو دَ پښتونخوا او بل دَ ايران باستان .......

دا خو دَ خپل وخت دَ "آدم خان" او "عمر خيام" دَزمانـــې دَ رواياتـــو قيصه وه . ولې زمونـــږ دَ دې دور دَ خيـــام هنر دَ دولسو سُرونو دَ وير پلن او عميق سمندر موسيقي ده چې دَ هـــنري راګونـــــو نه جوړه ده او درک او ادراک دواړه يې زما غوندې بې هنره دَرسايی نه ډېر ما ورا دي .



www.pukhto.net

ځکه نو هغه چې په خپل کلام کښې ځای په ځای ډېر بې تکلفه دغې پله کومې اشارې کړې دي او دَ خپل فني مهارت اظهار يې پکښې کړے دے. دا به بې شکه چې په خپل ځای قابلِ تحسين او قابلِ داد وي ځکه چې په دې جوړ هغه دَ شعر او موسيقۍ ترون په پوره مهارت رامخې ته کړے دے. او لکه د خان عليين مکان خوشحال خان يې دا څرګنده کړې ده چې:

"نظم لکه ناوې ده ، غنا دَ دې زېور دے"

ځکه خو دا علم يو دَ خيام په هنري تګ لاره راست دے.

هسې خو زمونږ دَ دې دور دَ خيام شاعري خپلې ځينې ځانګړې خوبيانې او خوندونه هم لري. په دې چې يو خو دا دَ خپل وخت ترجمانه شاعري ده او بل پکښې دَ جنون او جانان خبرې هم دي . دَ دې سره سره پکښې دَ جديديت عناصر ليدے کېږي . دَ خيام په شعر کښې دَ ژبې دَ روزمره او محاورې دَ استعمال خوند رنګ مثالي انداز لري . ښهٔ ډېر امثال و حکم چې دَ ژبې تن وجود دي او لکه دَ ناوياته



www.pukhto.net

جواهر پارو پهٔ پښتو کښې لکه دَ کانــې کرښه ېې دَ کلام زينت کړي دي. ډېـر تلميحات او تشبيهات پکښــې ښهٔ پهٔ بليـــغ انداز او شاعـرانه رموز ځای کړي دي. شاعر ځای پهٔ ځای دَ خپلو قديمو او جديدو نوموړو شاعرانو او سُخنـورانو پهٔ کلام تضمينونه هم کړي دي او داسې ېې زاړهٔ شراب پهٔ نوې جام کښې پهٔ خپلو لوستونکو پېرزو کړي دي . نهٔ خو يې عصري پېښې او بُدري نظر انداز کړي او نهٔ يې دَ پښتو او پُښتونـــولۍ روايات هېر کړي دي . ما چې کله دَ شاعر دا شعر لوستو چې:

نن يې را واپس کړلې قاصد ويل
نخښې دې خيامه نورې نهٔ ساتي

پهٔ دې شعــــر ېې ماته معاً هاغه روايتـــې ټپه رامخ ته کړه چې:

واخله آئين دسمـــــــال دې واخله
نهٔ دې ياري کړم نهٔ دې نخښې ګرځومه



www.pukhto.net

پهٔ شاعر دَ مـوږنى ژبې اهميت دَ بل هر چانه زيات څـرګند وي. هغه پهٔ دې پـوهه وي چــې خپله ژبه دَ انســـان دَ تهذيب ، تمـّدن ، کلچر او ثقافت امانت ګـره وي...دا چې ژوندى وي قام ژوندے وي. دَ هر اولس غم او ښادي دواړه دَ خپلې ژبې محتاج وي .... دَ خيام دا رنګين اثر کوم چې هغه دَ نکريزو په دود کښې رامخ کړے دے . دَ معاشرتـــي ژوند دَ زنځير يوه رنګينه کړۍ ده:

مُوده اوشوه خيــامه چې دَ کلي نه بهر يې
هغه به دا ځل بيا څنګ دَ اختر نکريزي ږدي

خيام دَ رواياتو دَ مـرکزونو پهٔ زيان او دَ دې پهٔ ناپيد کېدو هم ملال دے ، هم ورباندې دَ تاسف اظهار ډېر پهٔ مانا خېز شاعرانه او فکر انګېز انداز کوي ، وايي چې :

مونږ نه کهٔ وختونو حجره واخېسته
پېغلو هم دَ ټــول عمر ګودر بائيلو



www.pukhto.net

بیا دَ دې خیـــال سره یې هم اختلاف نهٔ شي کېدې لکه دا وایي چې :

اوس محدود نهٔ دے دَ مینې تر اظهاره
اوس غزل کښې نوي نوي تجربات شي

دَ خیام پهٔ سندرئیز کلام کښــې هره یـوه سندره هم هغهٔ دَ موسیقـــۍ دَ سندر بول پهٔ دود دَ خپل موسیـــقار فطـرت ترجمانه کړې ده . دا هم صوت و آهنګ لري او هم بـې بحر او بهیر پهٔ شاعرانه اوزانو برابر ښکاري .

دَ دې خبرې دَ څرګندولو پهٔ خیال چې خپل رقیب لهٔ خبردار ے وکړي او ورته اووایي چې :

"بترس اے مدعي از من که آتش دارین دارم"

شاعر یوه "هجو" هم رقم کړې ده . دَ هغه دغه اقدام لکه چـې بې ځایه نهٔ وي پهٔ دې چې : "یږ لهٔ تبر پکاریږي" .



www.pukhto.net

دَ خوندونـــو او رنګونـــو دَ دې موسيقار شاعـر دا ګلورينه شاعري کۀ يو پله دَ پښتو ادبياتـو دنيا له دَ مينې سوغات دي نو بل پله دَ پښتـــون وګړي نه دَ شاعـر دا ګيله هم بې ځايه نۀ ده چې :

خيامه کټوري لۀ زانـو مۀ غواړه قلار شه
پښتون پوهه کول سمه جګړه دَ ګرداو ده

**وما علينا الا البلاغ**

**پروفېسر محمد نواز طائر**

**ټيکاؤ منزل تاڼه ملاکنډ**

**۱۳-۱۰-۲۰۱۳**



www.pukhto.net

## جام جنون او جانان

اوس محدود نۀ دے دَ مینې تر اظهاره
اوس غزل کښې نوي نوي تجربات شي

خیام ......ربښتیا وايي .... خبره هم دغه شان ده .... او دَ پښتو غزل منظر نامه هم ورځ پۀ ورځ ...... نوي فني او تخیلاتي امکانات مخې ته راوړي ...... د جدت دا سفر جاري دے ........ دَ خیام یوسفزي ......جام ، جنون او جانان هم دَ دې تسلسل دَ یو کړۍ پۀ صورت زمونږ مخې ته دے.

محترم پروفیسر نواز طایر صیب یې تفصیلي څیړنه کړې ده . هغه به یقیناً چې ډیره احاطه کوي .

زۀ خیام ته مبارکي وایم .د مینې یې مننه کوُم او تریږنه هیله لرم چې نۀ یوائې به پۀ نړیواله سطحه دَ پښتو ژبې او ادب دَ خورؤلو لوی او بې لوثه خدمت جاري ساتي بلکې



www.pukhto.net

وخت پهٔ وخت راته داسې ښکلې شعرونه هم تخلیق کوي .

دا دَ چا وهم ګمان کښې نهٔ راتــــلله
چې خیام به شي دَ وخت پهٔ مېکدو بوج

**په مینه**
**ډاکټر علي افریدي**
**۷-۳-۲۰۱۵**



www.pukhto.net

## ویښ زلمے خیام یوسفزے

ښاغلې خیام یوسفزے یو ویښ زلمے دے . دَ قام خواخوږے او یو ډېر ښاپسته انسان دے . زما زړهٔ ته راتېر ملګرے دے. دَ دهٔ په اظهـار کښې ښکلا ، خلوص او دردمنـدي غونـدې ملغلرې ښکاري پهٔ خپل دې کتاب کښې خیام وایي چې :

ستا دَ لاس نخښې دَ ځان سره ساتمه
اوچ ګلونه راسره دي په کتاب کښې

دَ دهٔ کلام پهٔ مجموعـي توګه دا ښَئي چې دے یوې خـواته پهٔ خپل وجود کښې دننه او بلې خواته پهٔ ټـولنه کښې دَ انصاف او غوره بدلون پهٔ هلو ځلو دے .دَ خیام یوسفزي پهٔ لهجه کښې دَ جذبې دَ خلوص سره سره دَ شعور حدت هم پهٔ ډاګه لیدل کېدای شي . چونکې اوسنۍ پښتني ټـولنه له بېلا بېلو خطرونو سره مخامخ ده ، هرې خـواته انتشار دے. دسیسې دي او ورور وژنه ده ځکه نو دَ دهٔ ژونـدي احساس په دهٔ دَ قام درد محسوس کړے دے او ویښ یې ساتلے دے. دے وینـي چې دَ عامو خلکـو او پوهانـو تر مینځ اوږدې



www.pukhto.net

فاصلې دي ځکه نو په ټولنه کښې دَ دوی تر مینځ دَ فاصلو کمــولو په شعــوري هلو ځلو هم ښکاري . یوې خواته دَ دهٔ لاشعوري احساس دے چې دے په تخلیــق آماده کاندي خو بلې خواته خیام دَ شعــور سازي یوه داســې سلسله هم راوړاندې کـوي لګیا دے چـــې ریښــې یې لانـدې په خپل تهـذیب ، دود او کلتور کښې دننه دي . خیام یــوسفزے دَ پاخهٔ شعــور مالک دے او په خپل دې کتاب جام ،جنون او جانان کښې وایي :

زما خو په دردونــو په صدمــــو کښې زندګي ده
خـــو تهٔ وایه جانـــانه چې په تا څنګه تېرېږي
ملګــري پښتانهٔ سمنــــدر پورې کړي پُــوښتنه
چې ورځې شپې زمونږ په پښتونخوا څنګه تېرېږي

انصاف او اعتدال دَ خیام یوسفزي دَ ژوندانهٔ زرین اصولونه دي چې دَ دهٔ په لیکونو کښې لهٔ ورایه ښکاري . خیام ځان دَ قام دَ پایښت ، ښېګړې او پرمختګ دَ پاره وقف ګڼــي .دَ خپل قام ژبې ، کلتور او تهذیب هر کله خیال ساتي .دَ قام دَ خدمت او دَ پرمختګ هلې ځلې عبادت ګڼي . خپل شعور



www.pukhto.net

يې دَ خپلې سماجـــي ذمه دارۍ احساس ورکـوي . پهٔ خپله مينه محنت او بصيرت دَ خپلو خلکـو رهنمايي کول غواړي .

خيام يوسفزے چې کومه شاعري دَ جام ، جنون او جانان پهٔ نامه خلکـو ته وړاندې کوي پهٔ هغې کښې مينه ، ښکلا او سوز شته . زهٔ هيله لــرم چې لوستـــونکي به يې هر کلے اوکړي او تنده به يې تر يوهٔ حده پرې ماته شي .

**ډاکټر باقي دّراني**

**۸-۳-۲۰۱۵**



www.pukhto.net

# نعت

ډېــر پهٔ مینــه پهٔ ادب او احتــــرام
صلُو عَلیہِ الصلاۃُ والسَّـــــــلام

هــره مینـــه مې داو کړي ستا پهٔ در ده
که د ځـــان ده ، که د مال ده ، که د زر ده
یا که مینـه د اولاد ، مور و پـــــدر ده
که "عمرؓ" دے که "خضرؑ" دے که "ثمَـــر" ده
که د ګلو پهٔ دوش ناسته مې" نظـــر" ده
دا دعویٰ مې پُر جنـــون ده مختصر ده
پهٔ دې ټولو کښې هم ستا مینه بهتر ده

واړه مینې مې قـــربان شه ستا پهٔ نــام
صلُو عَلیہِ الصلاۃُ والسَّـــــــلام

جاري



www.pukhto.net

سلیقــې که د یلــزم او د لــزوم دي
صنعتـــونه د پښتو که مې معلوم دي
کنایې او تشبیهــات چې مې مرقوم دي
څۀ خو تت دي او څۀ شوخه پۀ مفهوم دي
لکه نقش مې پۀ بیاض کښې د نجوم دي
ستا تر حسن پورې ټولې کُل معدوم دي
مګــر بیا هم محمده (ص) ستا پۀ نوم دي

بیا د دې کلام مې ځار شه هـــر کلام
صلُو عَلیهِ الصلاۃُ والسَـــــلام



www.pukhto.net

# دعا

پناه غـــوارمه ربه دَ دې دهَـــر لۀ وسواس
هم دغـــه شـــانې خدايه مِن الجِنَةِ والنَـــاس

دَ عقل أو شعـــور ، علم أو پـــوهې پوخ اساس
نسيا ئې درنه نۀ غـوارم پښتـون له لاس پۀ لاس

پۀ مونـــږه پېرزوئېنه د خپل ذات دَ عـرفان اوکړه
پۀ مونـــږه منکشف کـړه منظـــرونه دَ شناس

لار ښـــود مې دې خر سَرو ببر سَرو له پکـاردے
اولس ګنـــې زما پۀ اولسونـــو کښې دے خاص

غاښونه چې دَ وخت جبر لۀ مات کړو لويه خدايه
مضبوط مو پۀ اعصابو کړې، مضبوط مو پۀ حواس

هـــزار کۀ آفتـــونه دَ ګـردون خيام ته ګواښـي
خـو چـــرته به دَ فضل نه ستا نشـي ربه ياس


www.pukhto.net

یو اِسم ډېـــر اعظم دے ، چــې هغه نـــوم دَ رحیم دے
چې تخت پــرې دَ بلقیس راوړي نو دا اسمـــې عظیم دے

خبـــر مې پۀ دې راز کـــــړه د رازونــــو نه خبـــره
لیکلے دَ الف ســـره دې ولـــې لام او میـــم دے ؟

را اوښـــایه چـــې څۀ بې تاب لرے شـــي دَ لـــرلو
خو زړۀ دا ســې مقام دے چې ښایست پکښې مقیم دے

ما وژنـــي هم پۀ ما بانـــدې ماتم کـــوي ملګـــرو
دا ښکلے مې جانـــــان دے او کنـــــه زما غلیم دے

دا څوکـــې د کاکل دې چې دَ خال ځینـــې راتـــاو دي
کنه دَ قدرتـــــونـــــو دَ کـــاتب لیکلے جیم دے

خیام چې پۀ زندان کښې هم ګډا کـــوي مستـــي کړي
پۀ ســـر ورته پـــــاړو دَ محبت نیـــولے بهیم دے



www.pukhto.net

ما کۀ پرېښــود څۀ کمے دَ شِعــر هنر کښې
نقش د خیـال مې شه لاهو پۀ سمندر کښې

لا خو زۀ پــرې الوتـې شمه آسمـــان ته
لا خـــو هومره زور لـــرمه پۀ وزر کښې

دا خـــو سترګـــې ماله کړې محبت دي
ګنـې ګُل د ے چا لیـــدلې پۀ انځر کښې

کۀ دې زلفـــې پۀ مخ راغلې باک ئې نشته
دَ باګـــرام ترکې دې ګرځي پېښور کښې

دنیا ډکــه ده دَ کاڼـــو کاڼـــو زړونو
خـو هنـــر نشته دَ دهـــر پۀ آذر کښې

جاري



www.pukhto.net

کوم سُـرونه چې دې شورې لۀ پانـــــزېبه
دا خـو نشته پۀ کـــومل او پۀ تېوَر کښې**

دَ هغۀ تنــــــده بـې کچه لیـــــونۍ ده
جام خیام لۀ ورکـــوه ساقي پۀ سر کښې

** موسیقۍ کښې کُل دولس سُرونه وي ، پنځه کومل او پنځه تېــوَر وي يو سا وي چې کهرج ورته وئیلې شي چې راګ پرې شروع کېـږي او پاې ته رسي هم ، يو پا یعنــې پنچم وي ، نو دغســې کُل دولس سُرونه شو

اکتوبر ۲۰۱۱



www.pukhto.net

پۀ ګوګل کښې مې دَ زړۀ کتوې شوه باندې
چې دَ ښکلي دَ ښکلا اور شو ترې لاندې

دا چې هره ګهړۍ زۀ پۀ تاره يم
دي په زړۀ مې دَ فراق توري هړاندې

دا سبب دې دَ انکار دَ زلزلو دے
دا چينې چې مې دَ سترګو شولې تاندې**

ځو به تۀ دَ جفاګانو وهې تُورې
ځو به زۀ کړم دَ آرمان پۀ مړي ساندې

هړاندې پۀ مانا د اړمې يا اموخته
تاندې پۀ مانا د رواني

جاري



www.pukhto.net

نـــن موقع ده چې دَ يـــو دَ بله ځار شـــو
څوک خبـــر دي راشـــه ښکليه دَ ګاندې**

خامخا به مـــې مارغۀ دَ زړۀ کښېباسـي
ستـــا دَ زلفـــو دغه لـومې آوېـــزاندې

ستا خيـــــام به خَرابات دَ ايران پرېږدي
کۀ صُهبا دَ سترګـــو کېږدې ورته وړاندې

مستقبل يا راتلونکي سره منسوب



www.pukhto.net

زلفـــې دې خوشبویه پۀ نـافه
غبـــرګې دې پـرتـې دې پۀ اوږه

غــاړه دَ مـرمـرو صُـراحي
لېچـــه دَ ریښمـــو نه پسته

ورځې دې رحېل کتاب دې خال
لـولـــمـــه دَ حســـن صحیفه

چال کښـــې قدمـــونه ښۀ دادرا **
جـــوړه دې پانزېبـــو کښې نغمه

** موسیقۍ کښــې دادرا یو تال دے ، د لاسونونو پۀ یو مخصوص انداز کښې پۀ وزن سره او د ټاکلې شوي ماترو پۀ حساب طبله غږولو ته تال وایي ، دغسې دادرا هم یو تال دے او شپږ ماترې غږولې شي

جاري



www.pukhto.net

لُؤلؤُ المَكْنُــــون ئي دَ عـــدن**
زۀ هـم لۀ اصْحـــابُ المـيمَنه

سر تــر پايه ته‍ول فَقّـــدَره**
چې مِنْ ائِّ شَـئٍّ خَلقَــه

ســوچ لرے خيامه رنـــدانه**
تۀ ئې علامـــه يا علاّمـــه

لُؤلؤُ المَكْنون يعنې پۀ مثل د ملغلرو چې پۀ سيپو کښې بندي وي
اصْحابُ المئيمَنه يعنـــې د ښــــي اړخ ډله ، سورة الواقعة
فقدره ، د زېږېدو سره د انسان ښۀ او بد تقدير ، سورة عبس
مِنْ ائِّ شَـئٍّ خَلقَه ، د خداى حېران کن تخليق ته اشاره
عَلامه يو پۀ مانا د روزمره دے او بل محاورتاً دے



www.pukhto.net

د دردونـــو پۀ کوټ ننه زما ژوند دے**
رنتنبهور مې خراب کړے دَ خُلې خوند دے

ستـــوماني مې بيـا پۀ خـواه راغلې نۀ ده
ما چې کله يې خـوب کړے پۀ مړوند دے

اتفـاق پۀ پښتانۀ کښې داسې غــوارم
لکه غاښ چې دَ وُورۍ سـره پيـوند دے

فصاحت او بلاغت تـــرينه څخيــږي
هــر کلام مې داسې ښکلے بند پۀ بند دے

زۀ به ډېر ملکــونه فتح کـړم دَ شعــر
ما زيـن کړے دَ الهــام دَ رنګ سمند دے

جاري

ننه يا دننه
رنتنبهور چرته چې خوشحال بابا نظر بند کړې شوے وو



www.pukhto.net

پۀ معنیٰ کښې دَ ’خوشحال‘ دَ انګرې دے**
پۀ ښکلا کښې دَ ’شیراز‘ او دَ ’خجند‘ دے

دا اعزاز او ښېک مرغي ده ما دَ پاره**
چې ’دریاب‘ زما دَ شعر په کار پسند دے

دَ خیام کلام خو ځکه بې بها دے
چې دَ مینې پۀ دولت دې بهره مند دے

20-10-2010

خوشحال خان خټک بابا
حافظ شیرازي او کمال خجندي د فارسۍ ژبې شاعران
ډاکټر پروفېسر علی خېل دریاب



www.pukhto.net

ټول رنګونه دې راغنډ کړل په نقاب کښې
خلل جوړ شو دَ سپرلي پۀ آب و تاب کښې

زما ځانه ، زما جانه ، ما خبر کړه
زما ژوند به ساتې څو پۀ اضطراب کښې ؟

يار ته خط نشم ليکلے له دې وېرې**
چې خبر يم يار به څۀ ليکي ځواب کښې

ستا دَ هجر پۀ صحرا کښې جل وهلے
مُستغرق مې کړه دَ وصل پۀ درياب کښې

پۀ سبا لۀ مې نا اشنا غوندې حالت وي
کومه شپه چې دې زۀ ؤوينمه خواب کښې

جاري

** د مرزا غالب د شعر پۀ اثر کښې



www.pukhto.net

ستا دَ لاس نخښې دَ ځان سره ساتمه
اوچ ګلونه راسره دي په کتاب کښې

زۀ خيام سکون په جام کښې ځکه ګورم
سکون نيشته محبت خانه خراب کښې

۱۰/۱۰/۲۰۱۰

انتقام مې له رقيبه ځکه نۀ اخلم
دا په چتې پسې باز الوَزول دي

ښۀ په هېڅ کښې خيامه ګورے نيشته
کۀ پردي کۀ افريدي دي کۀ مې خپل دي



www.pukhto.net

کۀ سنـــدرې کۀ نغمـــې دي
ستـــا دَ مينـــــې اوازې دي

چې پۀ زړۀ کښې دې ؤسېږم
نو بيا څنګــــــه فاصلې دي ؟

ژوند پۀ خپلــه ملازه شـــوه
ادب څکـــــه مـــلازې دي

دَ پېسو دَ پـــــاره منـــدې
دَ وختـــونـــو تقاضـــې دي

دَ انسان منګـــولې ګـــوره
دَ انسان پۀ وينـــو سُرې دي

جاري



www.pukhto.net

بنیـــــادمو خدای هېــــر کړے
بنیـــــادمو ته سجـــــدې دي

"لا خَلاقَــــــــه لَهُم" لــوله**
پهٔ جهـــــان کهٔ دې چرچې دي

ښکلي ګرځي مې پهٔ خیال کښې
کهٔ خیـــــامه فرېښتې دي

هغه خلک چې دنیا او پېسې اخلي پهٔ وعدو او قسمونو
سورة آل عمران



www.pukhto.net

نۀ دَ مرګ ، نۀ دَ حيات دي
ربه ! دا څنګــه حالات دي

چرته ښکار مغيث منيب شي **
چـــرته ډزې په جمات دي

کينې حسد ته سجدې دي
دا دَ دوَر لات منـــات دي

څۀ حالات هم کـړکيچن دي
څۀ زمونـــږ لوازمات دي

پۀ سيالکوټ کښې دوۀ ورونړه مغيث او منيب ډېر پۀ بې دردې سره
شهيد کړې شوې وو چې د ظلم انتها وۀ

جاري



www.pukhto.net

خبر کۀ نن وایم چې نېشته
واړه تلــونې بې ثبات دي

ګسه ستـــرګه مې رپېږي
دَ راتلــو يې امکانات دي

پـه چّلو مې رانده نۀ کــړۀ **
ښکلي نۀ دي خـو جِنّات دي

دَ خیــام زړۀ مېکــده ده
پکښې څومره براکات دي

رانده پۀ مانا د قابو دے
۲۵/۸/۲۰۱۰



www.pukhto.net

چې دَ وختونـــو نه جانـــان غواړم
لکـــه کافـــرو نه ایمـــان غواړم

خدایه لۀ زلفـــو نه مې مۀ بیلـوې
پۀ ګـور کښې هم دهغه ماران غواړم

ړوند شوے لار ته پۀ کتلـــو دې یم
دَ خپل نظـــر درنه تاوان غواړم

چې دَ رقیب پۀ خـــونه اُور ؤلګي
لاس دې پۀ لاسـو کښې قربان غواړم

خیامـه زۀ بې په کمخو کښې ړدمه
دَ خپلې خاورې څـــو ګلان غواړم



www.pukhto.net

غم دَ یـار ، غم دَ فـــراق د ے پۀ مزغو بوج
ګـرځـؤمه پۀ مزغـــو کښـــې دَ مودو بوج

دا پرېشـــــانه زلفې ما باندې خــورې کا
ځنکدن د ے چـــې لږ کم شي دَ سلګو بوج

خېـر دَ ګلو په دِنـــدرو کۀ ازغـــي وي
سترګـــې نۀ درنـــوي چرته دَ بڼـو بوج

مراتب پۀ ځېنـو ځېنـو پســې ګـرځي
ځېنـــې ځېنـــې خلک وي پۀ مـــرتبو بوج

پۀ پـــردې جنګ کښې دلبرې به ترکـــومې
خدايه ! کم به شي کنـــه دَ پُښتنـــو بوج ؟

جاري



www.pukhto.net

دا ملګرو انتهــــــا دَ مـادیت ده
چې یو ورور به وړي بل ورو له پۀ پېسو بوج

دا د چا وَهم ګمــــــان کښـــې نۀ راتلله
چې خیـــام به شي دَ وخت پۀ مېکدو بوج

۱۵/۸/۲۰۱۳



www.pukhto.net

# نجات

دګران او خوږ ملګري شيرين ياريوسفزي پۀ کلام تضمين

کـړَنګــــونه دَ ستــــار
رياضت دے زمــاَ کـــار

په نغمـــو کښې پۀ هـــر تار
پـــرده اخلم دَ اَسْـرار

دغـــه زيست ، دغـــه روزګـــار
دست به کــار او دِل به يـــار

دا زمونـــږ دَ وطن مشــــر
جفــا خـــويه ، دل آزار

دے جـــوګه دَ ګدۍ نۀ دے
لائـــق نۀ دے دَ دستــــار

جاري



www.pukhto.net

تــــوره ویستې لۀ ګفتـــاره
غـــازي نۀ دے دَ کـــــردار

دَ عمـــل نه بېګـــانه دے
عبث لافــې ئې بسيـــــار

کۀ دَ نيشت نه موذي ښـۀ دے
نۀ چـې دا رنګې خونخـــوار

پښتـــانۀ به خـــاورې ښۀ شي
چــې راهزن يې وي ســـالار

يـــا به اورســـي مــــرام ته
يـــا به واخلـــي سمــــه لار

زۀ مايــــــوس يمــه دَ دۀ نه
زۀ مايـوس يې دَ هـــــر چـار

جاري



www.pukhto.net

پښتانهٔ ئې بخښي چرته
دے دَ هر چا ګناهګار

دَ دهٔ غاړه کښې به لاس وي
دَ دهقان ، دَ مزدورکار

دهٔ سودا دَ اولس کړې
دے بنیا دے دوکاندار

سوداګر دَ پښتنو دے
بې ضمیره ، نابکار

خدایه زر زر ئې پناه کا
دا نا اهله ډنډا مار

دَ شبیر شاه پهٔ شانې را کا
چې لائق وي دَ دستار

جاري



www.pukhto.net

چې دا خـــوار اولس ودان کا
هم په کلـي، هم په ښــــار

چــې دَ امـــن ضمانت شي
چې نه شـــر وي نه شـاتار

پښتـــنو لۀ شعـور ورکـــړي
دَ هنـــر او دَ روزګـــــار

دے اولس له مُتـــې راوړي
چې غليم تـــرې کـــوي ډار

قسمتـــونه يې رڼــــا کړي
چې په شــا شي دندوکـــار

په عالم کښـــې بيا اوچت شي
او حاصل کړي زور وقـــار

جاري



www.pukhto.net

بیـــا به هاغه پښتـــونخوا شي
بیـــا به هاغـــــه لاله زار

بیا به هـــر پلـو سپـــــرلے شي
بیا به هر خوا ته بهـــــــار

پۀ خیـــام به راوربـــــــــړي
پۀ رنګونـــو کښې خُمـــــار



www.pukhto.net

دَ تدبیــر تقدیــر راغلے چــې تضاد دے
پــاتې شــوې لۀ ارمه بیـــا شداد دے

هر څه هر څه رانه هېر شي ستا پۀ یاد کښې
چې هېرېـــــږي زما نۀ صرف ستا یاد دے

زما ذهــن پــــرې بې کچه مُعطــــر دے
بیا شمال دې بُــوی راوړې له هېــواد دے

ډېـــر زېلې یمــه ستا دَ غم یــاجوجو
کۀ تاؤ کړے ما حِصار تــرې دَ فولاد دے

خېـــر آباد ورته ؤنه وائې جانـــــانه
دا زما دَ زړګي کـــور پۀ تا آبـــاد دے

چې هوس کاندې دَ سترګـــو پېمانـــو ته
پـه خیــام کښې دې بس دغه لوی فساد دے

۱۸-۸-۲۰۱۰



www.pukhto.net

مېکـــدې دي پهٔ اېـران کښې
کهٔ دې سترګې پهٔ جانـان کښې

ستـا د حُســن ثنا خــوان يم
ستـا د حُســن پهٔ جهان کښې

آئينــه درته حېـــــرانه
چې دا څهٔ دي ستا پهٔ ځان کښې

پهٔ ايمـان دا ســې مئېن شوم
شک مې راغې پهٔ ايمـان کښې

اتفاق پهٔ مونــږ کښــې نشته
دا خو شته دے پهٔ شيطان کښې

جاري



www.pukhto.net

کټه نیشته بې تاوانه
خو فائده شته په تاوان کښې

خیام څښي په هر موسم کښې
خو بې تُوله په باران کښې

۱۹/۹/۲۰۱۱

عقل چې نۀ شي تصّور یې کوې
جنون په هغه لاره تلۀ غواړي

ساقي! خبره دَ خُمونو کوه
خیام نۀ جام او نۀ پیالۀ غواړي



www.pukhto.net

خبــــر که مراسِم راســــره نۀ ساتي
هــر څنګه چــې ده خــو راله زړۀ ساتي

چا وې لبــونے به مې څنګ نۀ ساتي
دا چــې دَ نظــر مــړاوي کاتۀ ساتي

ماله شرابـــې سترګـې ډېــرې دي
ما دې دَ شرابـــو نه خداى وۀ ساتي

مونـــږه پکښـــې نخښـې دَ سبا وينو
مونږ ته کۀ حالات زړۀ کښې تيارۀ ساتي

څه چــې کړو انـــداز دَ محبت بدل
يـــاد به زمانه جانــــانه څۀ ساتي

نن بې را واپس كــړلې قاصد وئيل
نخښـــې دې خيـــامه نــورې نۀ ساتي



www.pukhto.net

کړي تلوسې مې دَ هغې نه طواف
کۀ پلوشې کړي دَ کعبې نه طواف

راغلې حرم ته دَ حبش لښکرې
کۀ دې کاکُل کوي دَ خُلې نه طواف

دا غم دَ غم دَ پاسه مانه چُورلي
کۀ حادثه کړي حادثې نه طواف

دَ ساقي مست نازونو اور ؤکرۀ
کړي زاهدان دَ مېکدې نه طواف

لږ التفات دې پۀ خيام خو ؤکړه
څو به کوي ستا دَ کوڅې نه طواف



www.pukhto.net

## د غنی بابا د نظم پهٔ یو شعر استقبال

"خوراک کـوي دَ سپي ، او مسئلې دَ مُلايانو
بانګـونه دَ بلال ، او لنګـوټې دَ چنګېيانو"

نهٔ فهم ، نهٔ سیرت لـري ، عـاری لهٔ بصیـرته
نهٔ پـوهه ، نهٔ کمـال شته او نامه دَ عاقـلانو

پهٔ ترخ کښې يې بُتـان وي ، مخ پهٔ لورې دَ کعبې يې
پهٔ زړهٔ کښې يې فتـور وي ، ډېره لـويه دَ سِکهانو

چیچل يې پهٔ فطرت کښې دي دَ زهرو نه ډک پک د ے
خـويونه پهٔ صـوفي کښې دَ مارانـو ، لړَمـانو

جاري



www.pukhto.net

ربښتیا دي " دَ مکې پۀ بزرګۍ کښې هېڅ شک نشته"
بابا وائي " چې خــر پۀ طواف نۀ د ے لۀ حاجیانـو"

آیت یې فراموش دَ مَکـرِهــنّ کړو پۀ کتاب کښې
باور چــې مُدامــن کـــوي پۀ ژبــه دَ زنــانو

نۀ جــرم ، نۀ خطا خـــو اشتیــاق دَ سلسبیل ؤ
فتـــویٰ یې لګـولې پۀ خیـــام دَ شرابیـــانو

یاد ګېرنه
دې کلام کښې علماء سو ته اشاره ده چې د لاندې ایت تر لاندې راځي
انا کثیرا من الاحبار ولرحبان لیاکلون اموال الناس بالباطل ویصدونه
عن سبیل الله

۲۲/۱۰/۲۰۱۰



www.pukhto.net

دغه يو ګام ځای دے
بس دَ ګلفام ځای دے

ستا دَ نظر غيبره هم
ښهٔ دَ آرام ځای دے

ستا دَ کوڅې لاره ده
دَ احترام ځای دے

ماله هغه راکړه تهٔ
چې دَ غلام ځای دے

خاص دے پهٔ تا ګنې نو
دا کلے عام ځای دے

جاري



www.pukhto.net

دا مېکـــده ده شېـــخه
وُوځه بـــدنــام ځای دے

دغـــه دنیـــا اومنـــه
دَ ګـــوټ دَجـام ځای دے

ځای پۀ ځایونـــو کښې بس
ایله  باګـــرام ځای دے

زړۀ کښې مې ځای نېشته نور
پکښـــې ګلفـــام ځای دے

در به وي ســـر به وي نو
دَ ډېـــر ناکـــام ځای دے

کۀ وي بیلتـــون دغســـې
ګِل دَ خیـــام ځای دے**

ګِل پۀ مانا د خاورې دے



www.pukhto.net

## سعود نامه

خپل ګران او خوږ کشر ورور ته

چې آغاز دَ کوم کلام پهٔ بسمِ الله وي
کهٔ خبره ډېره ښکته وي بالا وي

کهٔ باور دې دَ خپل مشر پهٔ وېنا وي
کشره تا ته څو خبرې به زما وي

معشوقې دَ عاشقانو مُدعا وي
او خوارهٔ لکه مګس خوښ دَ مُولا وي

پهٔ يو کور کښې جوړې ساندې او ژړا وي
پهٔ بل کور کښې آوازونه دَ سُرنا وي

څوک چې ژبې ته کوز ګوري هغه څهٔ وي ؟
دَ حُباب پشان بې بېخه ، بې بقا وي

جاري



www.pukhto.net

خامــــوشي دَ واهياتـــــو نه بهتـــــر ده
خپلـــــــه ژبــه هُــم قلا وي هُــم بلا وي

دَ ځـــوانۍ پهٔ ملک لښکـــر دَ عشــرت ډېر وي
خـــو پيري چې راشي بيـــا يې کـــرٍه مُلا وي

مُنـدرۍ ونه فســـادي ، لـــوړه احمقـــــه
او دَ ګــُـډ ســـړي يو رګ ګــُـورے سپوا وي

دَوفـــا کهٔ يـــو قدم درســـــره واخلـــي
سَــل قدمـــــه دَ يارانــــــو بيـــا جفا وي

اور يې بل بيا پهٔ تنــــدي شــي هُــم په خُـــونه
داســــې کېـــږي چې بې ذاتــه يې اشنا وي

" دلتـــه دَم او قـــدم دواړه پهٔ حســـاب دي" *
نتيجـــــه دَ ښـهٔ جـــــزا ، دَبد ســــزا وي

* عبد الرحمان بابا

جاري



www.pukhto.net

تېرې هېـــرې کا راتلـــونکې چېې شمـــاره
مېنځ کښې ستانه کۀ يې شمـــار چرې خطا وي

کۀ عزت غـــــوارې دَ بل به هُـم عزت کـړې
بې عزتـــي کۀ دَ بل ؤكـــړې دا به ستـــا وي

پۀ خُلۀ پوست او پۀ زړۀ روست موهر يوخپل دے **
وړکـــوَه يې کۀ "لالا" وي ، کۀ "کاکا" وي

کـــۀ دا وخت دي حبطـــه دَ عمـــل لاړو
کفـــاره به دي دَ ټـــول عُمـــر ژړا وي

خـــو تېر شوې وخت به چـرته راستـــون نۀ شي **
کـــۀ همېش دي پســـې چغـــې واوېلا وي

دا چـــې تۀ تـــربنـــه پېدا يې نو منـــه يې
سبا ستـــانه به هُم ستا په شـــان پېدا وي

جاري

پۀ خلۀ کوږ په زړۀ کوږ
پۀ تېر پسې ترتاب نيشته



www.pukhto.net

اسمِ اعظم دے پۀ عمران کښې غوَر اوکړه
یو آیت چې ابتدا به یې دَ "لا" وي

وظیفه دَ "ربِ اشرح لي" ته کار وایه
اراړه او ترټُرې لۀ دا دوا وي

بیا اوبۀ مالګه دَ سترګو سیلائي کا
دا عمل دَ لړم زهرو لۀ کیمیا وي

پۀ بیاض مې درته راښکلے څو کرښې
دا پۀ دا چې ستا دَ عقل سترګې وا وي

نۀ به عیش ، نۀ به عشرت ، نۀ به ځواني وي
نۀ به تول عمر خیام شیرین طوطا وي

نومبر ۲۰۱۰



www.pukhto.net

دَ چـــانــه زړۀ دَ چـــا ځیګر پاتې دے
پۀ محبت کښې مـــــانه سر پاتې دے

لا بـه ئې زړۀ لکــه دَ موم شي نــــرم
لا پۀ غـــــــزل کښې مې اثر پاتې دے

دَ چادَ شوخ ښائېست پۀ ښکلې غېږکښې
زمـــا لېمـۀ زمــــا نظر پاتې دے

چې مسافــــر شــوې دَ وطنــه لاړې
اوس مې دَ زړۀ خـــوشےکنډر پاتې دے

ستا کرسپې شوې ابتــــدا کښې غوڅې
زړګيــــه لا خـــو ډېر سفر پاتې دے

پۀ پښتنـَــــه مېخانه څۀ شـــوي دي
تږے خيــــام تږبنــــه بهر پاتې دے



www.pukhto.net

# کله کله

**د ساحر لدهیانوي د کلام په تاثر کښې**

کله کله زما زړۀ ته
دا سې خیال راځي ګلرنګې
تۀ يې جوړه ما دَ پاره
ګُلې زۀ هم ستا دَ پاره
سترې سترې دمه کېږم
ستا دَ تورو زلفو سېورے
لکه ګوْر دَ وَنو سېورے
زما روح باندې راخور دے
منم تۀ دَ بوډۍ تال يې
او زۀ ستا اووۀ رنګونه
تۀ کۀ راګ له سوزه ډک يې
نو زۀ ستا دولس سُرونه **

موسيقۍ کښې کل دولس سُرونه دي ، پنځه کومل ، پنځه تېور ، يو پنجم سُر او يو کهرج وي

جاري



www.pukhto.net

ګُلې چرته کښې چې ته يې
داسې هلته کښې هم زه يم
چرته ته چې په آهنګ کښې
لګه يې چې په يو چنګ کښې
کله کله زما زړه ته
داسې خيال راځي ګلرنګې
ته زما لېمه لېمه يې
ته زما لېده کاته يې
ته که ګُل زه دې بورا يم
ته که نمر زه دې رڼا يم
ته زما په تن کښې ساه يې
ته زما دَ رګ رګ وينه
کله کله زما زړه ته
داسې خيال راځي ګلرنګې
ته دَ مينې دَ سُر تال يې **

موسيقي کښې د لاسونونو په يو مخصوص انداز کښې په وزن سره او د ټاکلې شوي ماترو په حساب طبله غږولو ته تال وايي

جاري



www.pukhto.net

هم "دادرا"، "کِهروا"، "تین تال" یې **
کۀ یا چرته کښې "جپتـال" یې **
زۀ هُم هلته ستا "ټېکـه" یم **
ستا سـره خـوَږه نغمه یم
ستا دَ عشق پۀ سُـر پوره یم
کلـه کلـه زما زړۀ ته
داسـې خیال راځي ګلرنګې
لکـه قېس لکه لیلیٰ چې
لکـه هیر لکه رانجا وو
دَ آدم سـره دُرخـو وه
دَ سیفل سـره بدرۍ وه
دَ محمود خـوا کښې آیاز وو
دَ خیـام پۀ لاس کښې جام وو
دَ مستۍ حد پـرې تمام وو

دادرا شپږ ماترې لري دِهن دِهن نا تِن تِن نا
کهروا اتۀ ماترې لري دها تِرک تِن تِن تا ترک دهن دهِن
جب تال لس ماترې لري دِهَن نا دِهَن دِهن نا تِن نَا دِهَن دِهن نا
تین تال شپاړس دها دِهن دِهن دها دها دِهن دِهن دها
نا تِن تِن نا دها دِهن دِهن
ټېکه یعنې Rhythm

جاري



www.pukhto.net

داسـې ما او تا ګُلـــــرنګې
انحصـــار مو په یو بل دے
خو فــــراق مو په ازل دے
کلــــه کلــــه زما زړۀ ته
داســې خیال راځي ګلرنګې
ستا دَ مینــې نغمه ګـــر یم
تۀ ښکـــــلا زما دَ فن یې
خــو دا هم راته ؤدرېــږي
چې عبث غوندې خواري کړم
لا حاصله غوندې زیـــار کړم
ږدمه شنـــډ اِنځـــر ته غَنې
هسـې خپل زړګے تېر باسم
زۀ لۀ دې ځېنې خبــــر یم
چـــې زما دَ تنــدي نخښــې
چـــې زما دَ لاســــو کرښې
هغــې کـــرښې نه محروم دي

جاري



www.pukhto.net

کومه کرښه چې مونـــږ دواړه
دَ یو بل ســـــره یو ځای کړي
چـــې به تا زما په نـــوم کړي
دَ ژوندون په تـــوره شپه کښې
دَ خپل ذات په سمنـــدر کښې
زۀ چَکنا دَ یـــوې غـــاړې **
تۀ چکنۍ دَ بلـــې غـــاړې
خو بیا هُم ............................
کلــــه کلــــه زما زړۀ ته
داســـې خیال راځي ګلرنګې
چـــې به تۀ ګنـــې زما شې

چَکنا چکنۍ دوه جوړه مارغان چې دَ ورځې یو ځای وي او دَ شپې جدا شي



www.pukhto.net

ما هُم پۀ دے خبـــره زور واخپستــو
جانـــان حالاتــو چې پۀ زور واخپستــو **

خدای دې دَ سترګـــو تور بپلتونه واخله
چې دې زما دَ سترګـــو تور واخپستــو

چـــې دَ خـــرپوځـــو نه راؤوتمـــه
ورومبے قدم مې ستا پۀ لور واخپستــو

ستا پۀ سُورکو شونډو مُسکا خوره شوه
زمـــا دَ زړۀ زخـــم ټکور واخپستــو

ورومبی قافیه محاورتن او دویمه قافیه روزمره ده

جاري



www.pukhto.net

ما وې چې زۀ د رســـره مينه کـــوم
هغـې پۀ دې باندې سم اور واخېستـــو

هغه زمـــا دَ ســـــر قيمت لګـــوي
ما چې دَ چا پۀ ســـر پېغور واخېستـــو

شــراب که واړؤل رندانـــــو په ســـر **
ولې خيـــام ترې هم ښۀ سور واخېستـــو

** سور په مانا د خوند او سُر دے کيدې شي دَ نورو سيمو دَ لوستونکو د پاره نا اشنا وي



www.pukhto.net

دهوکه شوے چې زمـــانه زيات په تا دے
جوړ دا زړۀ مې مانه دوه ګـــوتې سپوا دے

څوک چې څومره زما زړۀ ته رانـــــزدې دے
هـــم هغــه رانه ډېر لـــرې دے جدا دے

دَ رنګونـــو نه چې نۀ شـوکـــوم سترګې
دا اثر دَ ښائيستـــونــــو ، دَ ښکلا دے

دَ بنګړو او دَ پانزېبـــو نه دې غـــلا کړي
کۀ "پنچم" دے کۀ "مدهم" دے او کۀ "سا" دے **

ملاکنــډه نــور مې هر څۀ کښې شريک ئې
خـو خـــيام مې پۀ يـــوازې ځان زما دے

---

دا سرونه دي ، هر راګ دَ "سا" نه شروع کيږي او پۀ "سا" ختميـــږي
"سا" ته کهرج وئيل کيږي
"سا رے ګا ما پا دا نی سا "سرونه دي
نو مدهم د "ما" او پنچم د "پا" مخفف دے


www.pukhto.net

داسې مۀ وايه چې چاته ګوته نيسي
دنيا ټوله ما او تا ته ګوته نيسي

دَ هغوی ذهنونه ډک دي دَ تيارونه
ګرَم خو نۀ دي چې رڼا ته ګوته نيسي

ترهه ګر دغه پۀ خپله دي ملګرو
چې زمونږه پښتونخوا ته ګوته نيسي

کۀ پۀ خپله ځي آسمان ته پروا نيشته
خو زمونږه اِرتقا ته ګوته نيسي

محبت ټوله دنيا کوي **خيامه**
نو بيا ولې خلک ماته ګوته نيسي ؟



www.pukhto.net

کله چــې دَ ژوند خبــرې ډېرې شي
بيــا دَ محبت سندرې هېــرې شي

لوښے به پېتى لۀ ښېخــه نۀ مومې
دا سختې کۀ چــرې پۀ تا تېرې شي

لاړ چې شي نــو لاړې زما اوچې شي
را چې شي نــو لاړې زما تيرې شي

دا زانې چې مونــږ ترې کټــورې غواړو
چرې به زمونږ دام کښې هم ګېرې شي

بيا به پۀ آســـانه ديدنــونه شي
بيا چې پۀ ګــرمى کښې پخے ببرې شي

ما خيــام ته حُــورې حُــورې مۀ کــوه
څوک به مې دَ ګل جانــان پۀ څېرې شي



www.pukhto.net

ګل ورینه چې په ځنګ کښې زما کښېني
په تعظیم کښې ورته رنګ دَ دنیا کښېني

هغه شپه خو هډو نوم دَ وَتو نۀ اخلي
چې خپسه دَ یادونو په ما کښېني

زما ژوند دَ تورتمونو داسې ډک دے
لکه سیورے دَ تیَرو چې په چا کښېني

دَ هجران په سنګینونو مې زخمي کړي
کله کله چې پیرے په اشنا کښېني

چې خیام لۀ خلۀ په ډک محفل کښې ورکړي
دَ رقیب په سترګو چتي بلا کښېني



www.pukhto.net

## خو چې ته مې څنګ ته راشې

دا عـادت زمـــانه نۀ ځــي
مُسلسل يو اضطـــراب دے
هم پۀ خوب کښې سرګـــردانه
هـم پۀ وېخه ورک لۀ ځـانه
انتظـــــار دے بورېنـــونکے
لکـــه پېچ و تاب دَ زلفـــو
څۀ زړۀ چاودې اضطـراب دے
دَ ساقي دَ وېش پۀ وخت کښې
دَ جامونو پۀ کـــړنګا کښې
چــې کاســـې پۀ بله اوړي
څۀ بې تـــوله خلک ؤڅکـــي
ولـې زۀ پۀ تا کښـــې ورک يم

جاري



www.pukhto.net

داسې ورک يم چې محـروم شم
دَ يو ځاڅکـي دَ څَکــو نه
دا عـادت زمـــانه نۀ ځـــي
بې مقصده پرېشـــــانه
دَ رنګونـــو پۀ رنګ زار کښې
دَ ګلونــــو پۀ ورېمو کښې
دَ چينـــار دَ سېـــوري لاندې
دَ چينې پۀ خاموشـۍ کښې
چې دَ شپـــون شپېلۍ غرېږي
چرته دِ بر لرې پۀ غـــره کښې
يکــه زار ټپه راخېــــژي
کائېنات ورته غوَږ غوَږ وي
هر يو ســـاز ورته ساه ساه وي
دَ سکـــون نشـې را اوري
خـــو يـــو زۀ يمه جانانه
چـــې ما دغه کېفيـــات هُم

جاري



www.pukhto.net

داسـې ؤځپې قسم دے
چې بې کـوره نا قلار شم
مانه دغه عـادت نۀ ځـي
زۀ محفل کښـې شم يـواځې
زۀ پۀ ګڼـه کښې تنهـا شم
زۀ جلوت کښـې پۀ خلوت شم
چې مئين مې پۀ نظـر شي
چـې دَ مينې ګفتګـو کړي
چـې يې لاس سـره ورکړي
زۀ لۀ خپله خـوده اوځم
زۀ لۀ ژونده تيښته غـواړم
زۀ فـرار ته لاره ګـورم
دا عـادت زمـانه نۀ ځـي
دا عادت به مانه څنګ ځـي ؟
دا عـادت به مانه لاړ شـي
" خو چې تۀ مې څنګ ته راشې "



www.pukhto.net

ستا دَ درد او غم نه مې ساتي وايم
ډېـــر ډېـــر آياتـــــونه قرآني وايم

هـر کله چې راشـــي سپے رقيب ياره
زۀ پـــــرې "صَمٌ بُکمٌ" بيا خفي وايم

راکړه راته لېچې په لاسونـــــو کښې
زۀ ستا په بنګړو کښې راګ راګني وايم

چـرته وِرد دَ مينـــې چـرته زړۀ زما
څنګه به قـــرآن پۀ دے عمي وايم؟

څوک چې هم خالق او مخلوق پېژني
زۀ ورته دَ ذات خــــود آګاهي وايم

تۀ خدمت بې لوثه دَ پُښتـــــو کوې
تا باندې خيــــامه شاباسي وايم



www.pukhto.net

زما کۀ زندګي پۀ پردی، خـــاوره کښېږي پۀ داو ده
نــو ځار شمه هغه پۀ خپل وطـن کښې پۀ کړاو ده

سحر چې کومې وُکتـُــو ماښام لۀ خېتې ځار شـي
پۀ دې باندې هم شکــر دے چې دغــه خو مېلاو ده

زمونږ خو لا نصیب دَ دیدنونـــو پۀ جار نشته
زمونـــږه یارانه ده ، خـــو دَ پورې وَر دَ چاوده

ژوند څۀ دے؟ خـــو مـزل دَ نا معلوم منزل پۀ لوري
او مرګ دغې منزل ته یـوه غېــږه دَ پړاو ده

خیامـه کتـــوري لۀ زاړو مۀ غـــواړه قلار شه
پښتـــون پوهه کـــؤل سمه جګړه دَ ګرداو ده


www.pukhto.net

چې پهٔ فـــراق کښـــې مې لېمهٔ سوزي
داسې پهٔ اوچـــو کښې لواندهٔ سوزي

دے احتـــرام دَ محبت رقیبـــــه !!
ستـــــرګه مې ستانه ګورے نهٔ سوزي

مالهٔ خـــو خدای راکړي ده ملګرو
دا حـــاســـدان رانه پهٔ څهٔ سوزي

چرته چې زهٔ پهٔ بې خودۍ کښې تلے شم
دَ عقل پــــر هلتـــه کښې وهٔ سوزي

چې ستمـونـو ته دَ یار ګـــورمـــه
خـــیامه زړهٔ مې پهٔ خپل زړهٔ سوزي



www.pukhto.net

امیـــر چـــې ظلم کـار وي
او ر بل پۀ تـــول دیـار وي

دا بعضـې بعضـې حُســن
والله ســدا بهـــار وی
څۀ ستـا دَ ستـــم پېټے
څۀ ژوند پۀ اوږو بـــار وي
څۀ زۀ او زړۀ پۀ جنګ یُـو
څۀ یـار جنګ ته تیـــار وي
څۀ مونـــږ ته خدای پۀ قهر
څۀ ستـا راته هم قـــار وي

څۀ ستا دَ مینـــې خُـــم وي
څۀ ستا خیـــام خُمـــار وي


www.pukhto.net

ستا پۀ مینه کښې څوک زړۀ او څوک ځيګر خوري
دا زما غـونډې پاګل خـو پکښې سر خوري

زړۀ مې زړۀ دَ ماښـامي نه تـر سحـر خوري
چې زلفان ئې تـوله شپه دَ بارخو سـر خوري

دَ وختـونـو تقاضې شــوې اور ورينـې
چنارونـــه مـــو دَ کلی دَ ګـودر خوري

مدام مـاله راکـــوي پيـالی دَ زهـــرو
پۀ رقيب باندې دَ سپينـې خُلې شکـر خوري

چـې خيــام دې لۀ خپل دره ټکَـرې کـړو
اوس ټکــرې لۀ هــر دره در پۀ در خوري



www.pukhto.net

ګُل فامه ، ګُل اندامه ، ښبوه ګر نکریزې ږدي
دَ ګوتــو پهٔ سرونـــو دَ زړهٔ سر نکریزې ږدي

زما نامه پرې ليکي نهٔ ويرېــږي، نهٔ شرمېــږي
دَ لاســو پهٔ ورغــوو پهٔ هُنــر نکریزې ږدي

والله کهٔ تاته رسي پهٔ و الله کهٔ ستا پهٔ شان شي
آسمان کهٔ دَ شفـــق پهٔ مازيګر نکریزې ږدي

هغه سپينې منګولې سرې کوي ترېنه خبـر دے
دا شبخ پهٔ سپينه ږيــره چې پهٔ سر نکریزې ږدي

راځي ورله وار نيسي ډلې ډلې پهٔ ماښــام کښې
دَ چم ګاونډ پيغلوکو له اکثر نکریزې ږدي

جاري



www.pukhto.net

ناوخته دے تیارۀ ده دَ لیتکي رڼا ختمېږي
لګیـــا ده ورته ګوره څومره زر نکریزې ږدي

موده ؤشــوه خیامــه چې دَ کلي نه بهر یې
هغه به دا ځل بیا څنګ دَ اختر نکریزې ږدي

۲۳/۰۹/۲۰۱۰

د ملګري اصغر یوسفزي په فرمائیش اولیکلې شو



www.pukhto.net

دا لا چا وي؟ چې دَ ژمې مازيګر دے
زما ژوند خــو بې لۀ تا اوږد سفر دے

"محبت کښې هم قائېل زۀ دَ وحدت يم"
چې نيــولې مې پۀ يو لالي نظــر دے

ګُلې قـــدر ستا دَ خال کـــۇمه ځکه
چې هم دغه زما پير ، زما رهبــر دے

دا خــو ګرانه! سعادت دے ما دَ پاره
چې دَ غم پېټے دې پروت زما په سر دے

بې لۀ تا به زما څنګه ګـذران کېـږي
دَ سائې پۀ شان دې ما سره ګُـذر دے

ستا خيام چې چرته تلے شي پۀ خُمار کښې
دَ رندانـــو سوزېدلے هلته پَــر دے



www.pukhto.net

راته یَو نظر کاتۀ دې یَو پۀ لس وي
دَ خَروار نه خو یَو چونګ نمونه بس وي

که دې دا ځل سترګې هغه شان خوَږې کړے
ګورے لافې دَ شېخۍ به مې تس نس وي

دَ کتاب په کوم یَو ورق کښې چې دې نوم وي
ما به ایخې بڼه هلته دَ طاوَس وي

ستا محفل کښې زما داسې کېفیت وي
لکه ځنګه چې دَ غل پۀ زړه خس وي

ستا پۀ دَر کښې به مؤمن عاشق خوشحال وي
منافِق لکه چې "طیر في القَفَس" وي **

ده ناشونې چې خیام به چرې موړ شي
دَ رِندانو پۀ هوَس کښې بل هوَس وي

حدیث شریف ته اشاره ده



www.pukhto.net

# آواز

دا آواز دے ، کۀ سُرود دے ، کۀ نغمه ده
کـۀ وېنا د ګلالۍ خــوَږه خــوږه ده

زۀ به څنګه د بل چا آواز ته غوَږ شم
ګلالۍ چې پۀ آواز کښې دي نشه ده

دَ جهــان ترنمــونه تــرې نه ځار شه
ستا خبــره خــو دَ قنــدو قتلمه ده

جادوګـــره ، سِحرګـــره دَ بيــان يې
ستا کلام کښې دَ خوږوالي معجزه ده

دَ آواز دَ جنتونـــو حُـــوره تۀ يې
خدای درکـــړې عجيبه شان ملکه ده

جاري



www.pukhto.net

ستا آواز ته ساز ولاړ ګوته په خُلهٔ دے
ستا آواز ته دَ سندرې خُلهٔ اوبهٔ ده

ستا آواز مې وړي دَ ځان سره آسمان ته
ستا آواز کښې دَ اثر دَ زور پازه ده

صفتونه به ئې څنګه خيام نهٔ کړي
ګلالۍ چې پهٔ لکونو کښې يوه ده

۳۰/۵/۲۰۱۰


www.pukhto.net

چا کۀ پرې زړګے او چا ځيګر بائيلو
ما خو ئې پۀ مينه کښې خپل سر بائيلو

مونږ نه کۀ وختونــو حُجره واخيسته
پېغلو هم دَ ټول عمر ګــودر بائيلو

ستا پۀ مخ دَ زلفو تيارې جوړې شوې
ما وئيل چــې ما ګنــې نظـر بائيلو

ستا دَ ستــرګو سِحْر ورمعلوم شولو
ځکه سِحْر ګـــرو خپل هنــر بائيلو

زۀ ځــومره بدبخته جــوارګر اومه
داو دَ مُحبت به مې اکثــر بائيلو

چا چــې زۀ ګټلے پۀ مـودو ؤمـه
ما هغه خيـــامه څومـره زر بائيلو



www.pukhto.net

بئیلـــؤلے کۀ مـــرګیه هـــر ځـــوک تۀ شي
زمـــا یـــار جُـــدا کـــولي لمـــا نۀ شي

زۀ به منـــع دَ هغۀ له کـــو ځـــې نشـــم
یه رقیبـــه کۀ تۀ ځـــان اوچـــوې دوۀ شي

ما دې ځـــومره ګـــرم تـــود هـــر کلے اوکړو
تا خـــو دومـــره هم ؤنه وې چې خـــوار مۀ شي

بس دا یـــو عـــادت په تا کښـــې دَ ورړو دے
چـــې پۀ نۀ خبـــره ؤنښلـــې او جۀ شي

دَ خیـــام کافـــر زړګیـــه ځـــۀ بلا ئـــې
چې پۀ یو ساعت کښې مرے پۀ بل کښې ښۀ شي



www.pukhto.net

چار چاپېره دي ګلــــونه زۀ تنها يم
خپل ټـوټې ټـوټې زړګـي ته پۀ ژړا يم

سم لۀ شپې نه د سبـــا سترګې ته ګورم
اخته شوے پۀ جامونـــــو د صُهبا يم
دَ ژوند لويه لار پــرته ده زۀ حيران يم
ښکيل پۀ کلکو زنځيرونــو دَ ښکلا يم
دَ تا سِحْر او ستم به ريز مريز کــړم
وخته زۀ خو دَ کليم هغــــه عصا يم
د آرمان پۀ ژبه پوی نشـــو تقديـر مې
بې نوا ترېنه زۀ خپل آرمان اوس بيا يم

محبت لکه فــرهاد غوندې رسوا کړې
تۀ لا وائې چې خيـــامه زۀ اخفا يم



www.pukhto.net

مـــاته په ښـــائېست دَ زاربدو چلونه ښائي
دا لکــــه پتنګ وَته دَ سْـــو و چلونه ښائي

زۀ دَ ژوند نغمـــو لۀ موسيقي تــرتيبَـــؤمه
ماته جانـــان ځکه په بنګــړو چلونه ښائي

ځه دَ خيال عدن ته ځـــو ټالونـــو له زړګيه
هلته ښکلې جـــونه پۀ کمڅـــو چلونه ښائي

دا مسافري څومره نا تـــرسه ده ملګـــرو
در پۀ در ســـړي ته پۀ ديکـــو چلونه ښائي

ځه دا فلسفـــې دي عقله لرې کـــړه لۀ مانه
مـــاته لېـــونی پۀ اشـــارو چلونه ښائي

جاري



www.pukhto.net

ځۀ حسین منظــر مــې دَ وژلــو دے زړګیه
یـــار زمـــا قاتِل ته پۀ لیمـــو چلونه ښائي

چا چې پۀ ټول عمر کښې شراب نۀ وي لیدلي
هاغه به خیـــام ته ځۀ دَ څښــو چلونه ښائي

۲۳/۵/۲۰۰۵

دا زړګے به لکه سپاندې درلوګے کړم
تۀ خـو راشـه کنه څنګ ته زما چـرې

ځۀ پوهېـږي دا بې قدره زمانه پـرې
ګنــې دي دَ کاڼـې کرښې مې خبرې



www.pukhto.net

ځـــان غواړې جانانه ،کۀ نۀ زړۀ غواړې
دواړه درکـــــــؤمه چــې ئې تۀ غواړې

ببرته دروازې لــرم ، پښتــون يمــه
راشــه کۀ د زړۀ کور ته راتلۀ غواړې؟

بيا دَ پربوتــو ځنې ويريـــــړه مــه
زړۀ کۀ چـــرې تۀ بره خاتۀ غواړې

پــوهه شومه ستا په آکر پــوهه شوم
بيا غـــــواړې نشه راغرځيدۀ غواړې

راشــــه دَ خيـــــام دَ ښکلي کلي ته
خـــــوی کۀ دَ ښکلا سـره ليدۀ غواړې



www.pukhto.net

## د قلندر مومند صيب په زمکه

تلاوت چې کله ستا دَ مخ آيات شي
نو طاري په ما څۀ بل شان کېفيات شي

د ښکلا سرګم ته چې ته رسېدے شي
پۀ سازونو کۀ توتې توتې الات شي

ستا مئين دَ نمر پرست مترادف دے
پۀ کاتۀ کاتۀ يې نمر ته ستونے مات شي

چې نسبت يې دَ ګل رخو سره وينه
" هر ازغے دې هم زما پۀ زړۀ کښې مات شي "

جاري



www.pukhto.net

کليــوالې! بـــې لتا مې پکـــار نۀ دي
کۀ د ســـرو راته دا واړه کائينـات شي

اوس محدود نۀ دے دَ مينـــې تر اظهاره
اوس غـــزل کښې نوي نوي تجربات شي

خدايه ! کله به سيـــالي دَ نړۍ اوکـــړو
خدايه ! کله به زمونـــږه سم حالات شي

ژوند معنـــې دَ هغه قـــام لۀ سره بايلي
هېر لۀ چانه چې خيـــامه روايات شي

۲۵/۹/۲۰۱۲



www.pukhto.net

## شیرین یار یوسفزي ته

ما چې څومره نظر ؤکړو ، پۀ تــول قـام دَ پُښتــــون هسې
نوڅوک تن مې پېدا نۀ کړو ، لکــه ستا یــو مجنــون هسې

لکــه تۀ چې څنګه ؤسوې ، او رڼا کـــړې دَ ایـــرو نه
تا دنیا وَته ښکاره کـړو ، دَ مرګ نَس کښې ژوندون هسې

کۀ صُورت دې تیارو ؤخوړ ، خــو وجــود دې پناه نۀ شو
تۀ پۀ مِثل دَ راګـونـــو ، درون هسې ، بېـرون هسې

یاقــوتې ښکلے غمے خو ، چا پېئلے پۀ هنـــــر وي
دَ پُښتــو ژبې مالا کښــې ، تا خــوړلے سمـــون هسې

دَ بـــلا هم کۀ پۀ مِثل ، دَ نهنګ کومے او نس دے
دَ ذوالنّون غوندې به ؤشي ، پۀ دُعا دې خلاصــون هسې

ستا دَ درد او غم احساس چې ، واړه ما څخه خــوندي دے
ځکه زړۀ مې داسې سوزي ، لا سېـوا تـرې لړمون هسې

جاري



www.pukhto.net

ستا کتاب "افغان ګلونه" ، او بل "اوښکې مشالونه"
یو جرَس بله رڼا ده ، دَ پاخون او دَ یون هسې

څو دې نۀ وینو پۀ سترګو ، بیا هم ډېر ډېر محسوسېږې
لکه خوږې یو نګهت وي او وي نېشت کښې ئې شتون هسې

پۀ انګشتِ سلېمان کښې ، بوالعجبه حشمتونه
پوهه زۀ پۀ دا اسرار شوم ، چې تابع شو خَيُّون هسې

ستا خیام خراباتي دے ، ګوري سترګو مېخانو ته
څکه تاته ئې پیرزو کړۀ ، دا شعرونه ګُلګون هسې

یادګېرنه
دَ خوشحال بابا دَ یو مشهور غزل پۀ زمکه عبدالقادر خان ختټک یو غزل دَ قافیې د لږ بدلون سره اولیکو او پۀ مقطع کښې ئې دا تعلي لوئي اوکړه چې

دا غزل پۀ پښتو ژبه ، چې بیان عبدالقادر کړو
دروغژن یم کۀ بې خانه وائي بل یو پښتون هسې

دَ عبدالقادر خان پہ ځېنو معاصرو شاعرانو لکه اشرف خان هجري ، صدر خان ختټک معزالله خان مهمند ، غفور او میا عبدل وغېره د هغۀ دا تعلي ښۀ ؤنه لګېده او پۀ جواب کښې ئې هم پۀ دغه زمکه تضمیني غزلې موذون کړې ددهغه ټول کلامونه پۀ کلید افغاني کښې راغلې دي

۱۴/۲/۲۰۱۱



www.pukhto.net

# تضمین پۀ کلام د حمید بابا

دا پۀ غُنــډه زنه خـــال دے ، کـۀ ممَـانـــه پۀ کـــاله کښېِ
دا قطـار کښېِ برند بانــۀ دي ، کـۀ سپـایان دي رسـاله کښېِ

سیــاه غـــوټــې دَ کاکُل ئې ، داسـې ډکـې دَ وږمـــو دي
چې به مُـشک هم هسې نۀ وي ، پـــۀ نافـــه دَ غـــزاله کښېِ

دا ئې زلفـــې پرېشـــانه ، پۀ رُخســـار دانه وانه دي
کۀ هنـــدوان راپـــارېدلي ، دَ کشمیـــر پۀ کشـاله کښېِ

دا بهـــړت دَ قـدمونـــو ، دَ پائیلـــو پۀ آهنګ کښـې
لکه دُهـن چې سره سـاز شي ، پۀ کِهـروا او بهوپاله کښېِ

آهنګ - نغمه ، آواز ، سُر
دُهن - کلاسیکي ، دَ کلاسیکي ساز سره منسوب
کِهروا - دَ طبلے دَ یو چال یا بهرک نوم چې اتۀ ماترے لري
بهوپاله - بهوپال یو تهاټهـ دے چې دَ سرونو دَ ترتیب بدلیدو سره مختلف راګونه ترې جوړېږي اوآروهي یا سمپورن ئې دَ اوو سرونو وي
کاله - منه

جاري



www.pukhto.net

ستا دَ غم قوي ولقه کښې ، زړۀ مې داسې آه و زار کا
لکــه زرکه چې زګېــروي کا ، دَ کتــه باز چنګاله کښې

مینــــه ورَکــه ده خیامــه ، دَ زړګــو او دَ ســـړو نه
لکـــه څاڅکے صُهبا نۀ وي ، په مینا او په پیـاله کښې

تدبیـــــر کۀ دے هاتهی د ابرَها نــو
تقدیر ګــورے حجـــر د ابابیل دے

د امن دعـــوېدارو څواب راکـــړی؟
وژلے مو پښتـــون پۀ کــوم دلیل دے

وختـــــونه کۀ اورونه د نمــرود دي
خـــيامـــه محبت خلیل خلیل دے



www.pukhto.net

تلۀ درازې زلفې نرۍ مُلا زما تر څنګه
جوړه انګازه دَ باهوګانو شړنګه شړنګه

ما لیده چې شال یې اطلسي پۀ سر وو تلله
ؤنه دَ چنار یې وه له هرې ؤنې دنګه

ګل سترګې، ډیوه زنه، او تور خال یې پۀ رخسار
دا پۀ شان دَ زرکې تېریدله ړنګه بنګه

وو یې خندل تندر یې راؤغرځو لاړه
درنګ کښې یې زما د زړۀ دنیا کړه درسته ړنګه

پوئ نۀ یې ساده یې چې ګیلې کوے خیامه
کړې دے تپوس کله ډیوې لۀ خوار پتنګه



www.pukhto.net

## تضمین په کلام د صنوبر حسېن کاکاجي

چې په زړهٔ ځېګـر لشـې مې دَ بهـو ځي
لکه ستنـې چې پهٔ مینځ کښې دَ تهـو ځي

فرېښتـې چې چـرته پَـر نهٔ شـي وهلې
درویشـان هلته ښپـې ابله بې پهـو ځي

تهٔ پهٔ ما باندې پېـرزو دې سرهٔ رُخسار کړه
طبیب وائـي مَـرضـونه پهٔ مهـو ځي

خدایه ښکلې یې پهٔ روغـو غوږو نهٔ اوري
مګر غَـږ چې مې تــر غـوَږو دَ کهـو ځي

جاري



www.pukhto.net

بې حُجـرې او بې جُمـــاته زندګي شــوه
ماشـــو موالـې بې سـېـزنــو او بې وَرنــو ځي

بغـــاوت لۀ روايَـــــته خيــــام کړے
حريفـــان دي لۀ "فـــارسه" پۀ ماڼــو ځي

يادګيرنه
ماڼو ـ قافيه دَ ضرورتِ شعري دَ پاره پکار راوړستې شوې ده چې ماته سهي ښکاري



www.pukhto.net

چې عُمّال يې بد مذهب وي
دَ اعمالو په سبب وي
دَ ښادۍ طمع عبث ده
چې نا اهله په منصب وي
ترقي به څنګه کېږي؟
چې چاوډنې شوروشغرب وي
دا خبره ازموده ده
چرته ډب هلته ادب وي
سړے نۀ دے بې لۀ مينې
کۀ عجم وي کۀ عرب وي
خيام وېشي جام دَ مينې
کۀ دَ چا وَته طلب وي



www.pukhto.net

لاړه به دې اوښکــــه رانه نۀ شــي اننګـــو ته
ښکليـــه دا شبنـــم نۀ ورکـــؤم بلو لمبــو ته

بيا لکـــه دَ غـــره دې زۀ رانجه شم جلوه ګـــره
بيا لکـــه موســى يم مُضطربه ستــا لېــدو ته
بيا لکه قـقنس غــوندې لمبه شــومه پۀ اور کښې
بيا ايــره ايــره شــوم حــواله دَ بــاد چپــو ته
بيا يې مُغلــي بــانه دَ وروځـــو پۀ ليندو کــړل
بيا يې کشـــالې دې جــوړې کــړې يوسفــزو ته
بيا به دَ يتيم پۀ رزق کښــې خاورې غـــورځوي خو
بيا به په حـــرم کښــې داني اچــوي مرغـــو ته

بيا جوړ پېمـــانې دَ هجــر ډکــې شوې خيـــامه
بيا دې سينــــه چاک کـــړله دَ هجــر پېمانـــو ته


www.pukhto.net

## خپل حال

د خوشحال بابا په زمکه

کۀ دې مینــــه کۀ نفـــــرت دے
منت بـــــار يم غنيمت دے
زۀ دَ مرګ ســــره بلد شـــــوم
قتلول چـې ستـــا عـــادت دے
اے دَ عـــرش سپـــوريه مۀ ځه
ګـــوره ســـوزمه قيـــامت دے
ستا دَ زلفـــو پرېشـــانۍ کښې
مــــا مونـــدلے جميعت دے
پۀ خـــوږو کښې مې تـــراخۀ دي
زمــــا داســـې طبيعت دے
ککرۍ ګـــــويانه نۀ يـــم
خاموشي زمــــا فطـــرت دے

جاري



www.pukhto.net

پۀ کثـــرت کښې راته ښکـــاري
اعتقـــاد مې پۀ وحدت دے
ستا کـــلام راته ازبـــر دے
ربه ! ستـــا پۀ مـــا رحمت دے
پس يو نيم کاله خـــوارۍ کښـــې
ما مونـــدلے سعـــادت دے
پۀ څلـــور کاله محنت کښـــې
ما زده کړے بيـــا قرأت دے
نـــور ځـــو علمه لۀ استـــاذه
استعمـــال ئې قبـــاحت دے
ربـــاب زړۀ ځيګر خوراک دے
مـــا زده کـــړے پۀ زحمت دے
خـــو بخيل ئې استـــاذان وي
دا کـــــــوټلے حقيقت دے

جاري



www.pukhto.net

بــاز زما دَ شــاعــرۍ هم
ګــوره پــورته پۀ الوت دے
پۀ دا کــارځکه خــوښ نۀ يم
اضطــراب او ثقــالت دے
حاکمـــان پۀ زړۀ کــاږۀ دي
ما ئې پـــرېښې اطاعت دے
لۀ ديتـــه نا خبـــره
دا زمونـــږه عدالت دے **
سل دې ؤمـره يـو دې مۀ مره
دا دَ دې ځـــاى روايت دے
تـزکيــه چې دَ نفس ؤشـې
بس هــم دا روحــانيت دے

ريمنډ ډيوس ته اشاره

جاري



www.pukhto.net

ما چې دا کــــلام رقـم کړ
پۀ حجـــاز مې اقـامت دے
شپــــاړسمه دویم ربیـع دے
څوارلس دوۀ دېرش دَ هجرت دے
بابا ! ستا پۀ شان خیـــام هم **
کۀ څۀ وائي قبــــاحت دے

مقطع کښې دَ خوشحال بابا یو شعر ته اشاره ده
نور څۀ مۀ وایه خوشحاله
کۀ څۀ وایې قباحت دے



www.pukhto.net

# سندره

مینه ، مینا ، سترګې مخموره
پۀ مسکیتوب کښې لکه حوره

بندي یې ډک دے دَ غمو نه
شراب یې اووري د لېمو نه
عطر یې څاڅي دَ کمځو نه
سپرلي یې غلا کړي دَ ورېمو نه
هره ښکلا یې ده مزدوره

مینه ، مینا ، سترګې مخموره
پۀ مسکیتوب کښې لکه حوره

جاري



www.pukhto.net

دَ ښائېستـــونـــو ښاپېرۍ ده
وړه وړه لکــــــه کلـــۍ ده
رڼـــا رڼـــا دَ دنيـــاګـــۍ ده
بـــره دَ دويم آسمـــان په ژۍ ده
سپينه سپـــوږمۍ ده همه نوره

مينه ، مينا ، ستـــرګې مخموره
پۀ مسکيتـــوب کښې لکه حوره

تـــوله ادا ادا د نـــاز ده
ډېـــره خوږ غـــږې پۀ آواز ده
پوهه په سوز ده ، هم پۀ ساز ده
دَ هـــر يو سر ســـره همراز ده
بيا هم پۀ فـــن نۀ ده مغـــروره

مينه ، مينا ، سترګې مخموره
پۀ مسکيتـــوب کښې لکه حوره

جاري



www.pukhto.net

کۀ لوګـرې کۀ لغمـــانې دي
ګلې ستا چـــرته دَ سیالۍ دي
ستــــــا اوازې د فنکـارۍ دي
دَ نغمګـــۍ ، مصـــورۍ دي
ماته پۀ هـــــر څۀ يې منظوره

مينه ، مينا ، ستـــرګې مخموره
پۀ مسکيتـــوب کښې لکه حوره



www.pukhto.net

# وصال

چې پهٔ زړهٔ کښې دَ مودو نه وو درون
نن هغهٔ غمونه کړه کوي یون

دَ سکون دَ خوشحالۍ حُورې ګډېږي
جنت وینمه په زمکه پهٔ ژوندون

دَ هر چا پهٔ مخ کښې نخښې دَ مُسکا دي
یو چُورلک نوے خوړلے دے ګردون

دَ زړګو دَ نا قلاره دشت پهٔ للمه
دَ قرار ګلان حالاتو کړل زرغون

بیا به رانشي پهٔ داسې لاره لاړل
اندیښنې ، فکرونه هم دَ زړهٔ چاؤدون

جاري



www.pukhto.net

انتظـــار دَ شــوګیرو سره فنا شــو
هم لوظـــونه نا پــوره دَ نن پــرون

دَ وصـــال دَ پســـرلـــو قافله راغله
خزانـــونه ځي روان دي دَ بېلتـــون

دا زما دَ زړهٔ پــوره شــو آرمانـــونه
دَ غماز دَ اُمېدونـــو اوشــو خــون

زندګي نوې شروع شوه دَ خوندونــو
لاړل ختم شو وختـــونه دَ کـــړون



www.pukhto.net

# هجو

د خوشحال بابا په زمکه

"لکه سپے راپسې ګرځي په دُنبال"
يَو څۀ لوښے دے نوميږي ............

پرتوغاښ ئې دَ خُلې نشته دے وَيرې
الزامونه ، بُهتانونه ئې اشغال

پوره د ږرش کاله ئې ؤخوړه ډوډۍ
بيا هُم ښکاري ښۀ دَ عقل نه ګنګال

دَ ادب نه بې خبره بې ادبه
دَ کنځلو مَړنے دے بد خِصال

جاري



www.pukhto.net

ځـــو به خـاوري اړوي پهٔ خپلو کَــړو
" عیب دَ تیـــز خو نهٔ پټېــــږي پهٔ سعّال "

مریدانــو ته آسمـــــان پهٔ ډزو وُلـــې
ډېر خوښیـــږي پهٔ چمچو او پهٔ تیتال

دَ شُهرت دَ پـــاره وړے تړے ګـــرځي
دَ انواع انواع حَربــــو کړي استعمال

عالمان چې دي زمونــږه دَ دین سَتنې
بد پــرې وائي پهٔ هغــو باندې ارذال

پهٔ ما هم یې لګــولي دي تـــورونه
مګر خدای خبـــــر زما دے پهٔ افعال

جاري



www.pukhto.net

بې خبــرنې ، بې تحقيقــه تَپل کاندي
جوابدِه دے هــــر وګـړے دَ اعمــال

چې نا کرده پۀ اشرافـــو پورې تـړي
دغــه کار دے دَ بد ذات او بد سګـــال

دا چې څۀ ئې دي پۀ ما پـــورې تـــړلي
دا ئې ؤګنــــــه دَ دغې استـــدلال

زۀ دَ دهغـــو الزامونـــو مُصّفا يم
څکـــه نۀ يمـــه يـــوه ذره ملال

کمَـــولې زما نشــــي دا دې واؤري
دَ جامې نه ، دَ نامې نه يــــو مِثقــال

جاري



www.pukhto.net

زۀ خیـــام هم دَ پُښتـــــــون بابا بچے یم
راســـره دي هُم قلم او تـــــــوره ډال

۱/۲/۲۰۱۲

مانه کۀ بها غـــوارېِ دَ یـو نظـــــر لیـدو اشنا
واخله ما زمانه زۀ دَ دېِ ســـــودا بها شومه

نن چېِ مېِ دَ نن زنځیر پۀ غاړه کښېِ پرینښودو
ځکه خـــو آزاد دَ غلامۍ نه دَ سبا شومه



www.pukhto.net

# فرار

راځه اشنا چې درومو دَ بې رحمه آبادۍ نه
تنګ شومه زهٔ تنګ شومه زهٔ دلته زندګۍ نه

هلته به صُهبا وي ستا پهٔ لپو کښې رندانه
هلته به "تهاتهونه" او "راګونه" وي مستانه
هلته به نڅا دَ سبرونو وي جانانه
هلته به وختونه وي پهٔ مونږه مهربانه
هلته به سکون رانازلېږي لهٔ آسمانه
هلته موسمونه به ځارېږي زما ستانه

هلته به بې غمه یوو دَ غم دَ دنیاګۍ نه
تنګ شومه زهٔ تنګ شومه زهٔ دلته زندګۍ نه

جاري



www.pukhto.net

هلته به یو زهٔ یم او بل تهٔ زما پهٔ څنګ کښې
وي به د بُلبلو آوازونه پهٔ آهنګ کښې
وي به ډېر سُرود ستا دَ پائیلو پهٔ شرنګ شرنګ کښې
تال د عشق به جوړ کړو د هستۍ مستۍ غورځنګ کښې
شو داسې نشه به ، چې به نهٔ وي نشه بنګ کښې
مونږ سره اتڼ به پلوشې کوي پهٔ ترنګ کښې

زړهٔ به مې تاوېږي ستا دَ مخ ښکلې سپوږمۍ نه
تنګ شومه زهٔ تنګ شومه زهٔ دلته زندګۍ نه

بیا به عطرژنې وږمې راشي ګڼې ګڼې
تاله جوړوي به دَ هوا پهٔ شانه څڼې
را به دَ فطرت دَ رنګینو نه شي مالڼې
جوړ به اخترونه کړي زمونږه پهٔ جونګڼې
تاله پهٔ اوربل کښې به دَ حُسن کلۍ بڼې
ماله به زخمونه دَ پرکاله زړګي سکڼې

بیا به خیام مۍ څښې ستا دَ سترګو دَ پیالۍ نه
تنګ شومه زهٔ تنګ شومه زهٔ دلته زندګۍ نه



www.pukhto.net

بلسېدلے چې یې ما پورې وجود دے
د رِندانو پۀ شان تللے رانه خود دے

د ښکلا بُتان یې زړۀ کښې کښېنولي
ځۀ کۀ هر وختې پہ خلۀ دَ شیخ درود دے

دَ تاوان دَ کور خبره پکښې نیشته
محبت خو تہوله ګټہ ده او سود دے

دا سړے لۀ سریتوبه خبر نۀ دے
دا سړے چې دَ خپل ځان پورې محدود دے

پۀ پردېس کښې هم پۀ دغه غم اخته یوو
چې وطن مو سوے لوے پۀ بارود دے

جاري



www.pukhto.net

تــــوازن بې پۀ اعضـــاؤ کښـــې لرلو
پۀ آیـــاز باندې مئېن ځکـــه محمود دے

دَ پـــــرون نه پــرې دَ ځښکلو پابندي ده
دا خیـــــام ځکه نن داســې تردود دے

۲۱/۳/۲۰۱۴



www.pukhto.net

راوړه ساقـي راوړه انګـوري شراب
نس نس ته پۀ تړپو چې مې ځي شراب

زۀ ورته جامـونه دَ نظـر نيسم
موج دَ چا پۀ سترګو کښې وهي شراب

ماته څۀ حاجت دَ شـرابـونو دے؟
ماله خـو زما ده شاعـري شراب

زۀ چې پـرې دَ هوش لۀ آغوش وُځمه
راکـړه يو څو ښاڅکي طلسمي شراب

جاري



www.pukhto.net

زۀ د "عِليّين" د پاسه ګـــــرځمه
څښکلې مې دي داســې جنتي شراب

ما خيام له راوړه خپلو لپـــو کښــې
او ګنــې پۀ شړق دي شي ساقي شراب

۰۲/۰۴/۲۰۱۴



www.pukhto.net

دا سې غم دې پۀ خاطـــر دَ خيام پروت دے
لکه بـــوج دَ اسـرائيلو پۀ شـــام پروت دے

هغه تۀ چې يې لار څارې شـــوګيـــره کړې
هغه ښکلے ښۀ پۀ خـــوب پۀ آرام پروت دے

دا خـــو ماتـــه دَ صدو صدو نه ډيـــر دے
کۀ سفـــر راته جانـــانه يـــو ګام پروت دے

کۀ جُـــوته مې ده ډيـــره پۀ ملاکنډ کښې
زما زړۀ ګـــورې منه پۀ باګـــرام پروت دے

يه رقـــيبه ! ستا دَ ذوق څخه لوګے شم
زما زړۀ کښـــې دې بلها احتـــرام پروت دے

دَ جانـــانه تـــر جنـــونه پـــورې لاړو
کۀ پۀ جام باندې نسکـور دې خيام پروت دے



www.pukhto.net

راته راغلــــي پۀ دلـــو دلـــو بلهـــا خطونه
خو زۀ چې لوَلمه نـــو ستا خطـــونه ستا خطونه

يــوړل زمانه دَ فـــــراق تُنـــــدې هوا خطونه
دَ عشق مضمون باندې ليکلي چې وُو ما خطونه

ګــوره د يو خط پۀ ځــواب دې هم ؤنۀ نمانځلم
تاتـه خـــــو ما ليکلـــــي وُو بلا بلا خطونه

داسې سپـــــرلو پۀ ملاکنډ رنګــونه ؤتـوکۀل
لکه دَ ښکلو پۀ مـخ راشـــــي دَ ښکلا خطونه

ځان له يې زړۀ پۀ لټـــــولو پســـــې ؤچۀلو
خدايزده چې ورک دي لۀ خيامه دا دَ چا خطونه



www.pukhto.net

حېـران يمه په دې چې مې يــوې ته نۀ پرېږدي
ما دې ته نۀ پرېــږدي او ما هغې ته نۀ پرېږدي

ګنـــاه مې مينه نۀ ده پۀ څلـــور واړه مذهبه
دا خلک مې بيا ولې ستا کوڅې ته نۀ پرېږدي؟

يو خوا مسافـــري ده مزدوري ده ببر مخ يم
بل خـــواته دا حالات مې آئينې ته نۀ پرېـږدي

زۀ هم پۀ زغل روان يمه دَ خپل مــرام پۀ لوري
کۀ ستـــړي مزلـــونه مې دمې ته نۀ پرېږدي

خيــامه بوی دې اوس هم ځي دَ خلې نه دَ شرابو
دا ځکه خــــو دې ؤمنه کعبې ته نۀ پرېږدي



www.pukhto.net

ولې نۀ خورې تۀ خوارۀ زما د لاسه
ما خو زهر هم خوړلي ستا د لاسه

تا نيولې ده اشنا بلا دَ لاسه
کۀ تاؤ شوې ده کمځې د تا د لاسه

خورې تيندک زما ارمان پۀ اوچه ډاګه
خو ما شوم لکه نيولے ما د لاسه

هډو زلفو له ځنډ ښۀ نۀ دے صابره
خونې رنګ شي د طوفان هوا د لاسه

کۀ د زلفو پۀ زنځير مې وے تړلے
خيام نۀ شو بيا وتے زما د لاسه



www.pukhto.net

هغه چې راغله ارماني لاړله
دا څۀ بې وخته مې ځواني لاړله

ګټې د لويو ګټو لاندې شولې
زندګي هسې تاواني لاړله

تل مې د مينې جواري کړېده
پۀ دې عادت رانه خاني لاړله

شول مې خيالونه لکه ټال د بوډۍ
پۀ مخ مې هغه الواني لاړله

سوچ د تعمير ځکه په ښېشت حساب دے
ګراني شوه زياته ارزاني لاړله

خيامه ځان مې ترې را ؤنغښتلو
ښۀ شوه د ښکلو من ماني لاړله



www.pukhto.net

خدای تا تـرې خبر مهٔ کــړه بې لهٔ تا ځنګه تېرېږي
دا ژوند دَ حوادِثـــو چــې پهٔ ما ځنګه تېرېږي

زما خـو پهٔ دردونـــو پهٔ صدمو کښـــې زندګـــي ده
خـــو تهٔ وایه جانـــانه چـــې پهٔ تا ځنګه تېرېږي

ملګـــري پښتـــانهٔ سمنـــدر پـــورې کـــړي پښتنه
چې ورځې شپې زمونږ پهٔ پښتونخوا ځنګه تېرېږي

زما دَ وطن خلک چـــې نهـــر ورېي سملـــــي
دا رنګ رنګ خوراکـــــونه به زما ځنګه تېرېږي

هغه چـــې یې زما ســـره ژړلي دي پهٔ ژوند کښـــې
هغه به مې پهٔ قبـــــــــر پهٔ خندا ځنګه تېرېږي

جاري



www.pukhto.net

اشنا چې پۀ رېښتيـــــا سره اشنا دَ خپل اشنا وي
اشنا به دَ اشنا نه بيـــــا پۀ غــــلا ځنګه تيرېږي

دا ځان خو ډېر بې کچه خدايه خوږ دے زۀ حېران يم
له ځـــــانه به ځــان مرګے پۀ والله ځنګه تيرېږي

شـــراب دي سره ګلـونه دي کړنګارې دَ جامونــو
خيـــــــامه دا سپرلے به پۀ مُلا ځنګه تيرېږي

يادګېرنه
دَ نومورې هنر مند کرن خان پۀ لاندينۍ راکړې شوې شعر اوليکلے شو

ځۀ پتـــه درته لګـــي بې لۀ تا ځنګه تيرېږي
پۀ دومره حادِثو کښې ژوند دَ چا ځنګه تيرېږي

۱۳/۵/۲۰۱۴



www.pukhto.net

هــره بلا دې ستـا دَ سپينـــــې خلــې پۀ ما ؤلګي
دنيــا دې ســر اوخــوري دنيــا دې پۀ بلا ؤلګي

تۀ چــې بـــربنډه سينه ګرځې بې پـــروا لېـونۍ
دَ شيخ پۀ ســر کښــې خــو به خامخا سودا ؤلګي

باڼه دې مړاوي شي محفل کښې څۀ پيکه غوندې شې
ستا چــې پۀ ما باندې نظـــــر کله اشنا ؤلګي

زۀ يــې پۀ هغه ټک غنــدمه ورته ګــوته نيسم
پۀ ما چې کـــومه يو خبــره نا روا ؤلګي

تا تنـــــدرونه د ښکلا پۀ شپه کښــې اووَرول
پته به لګـــي چـــې صبا شـــي او رڼا ؤلګي

تۀ چــې جامونه شــرابـونه زوتــوے خيــامه
دا ستا خبـــرې به ښـــې څنګه پۀ مُلا ؤلګي



www.pukhto.net

# ګنج

یو "کهرج" وي چې سَر وي
پښتنه پسې "تیور" وي

یو "پا" وي چې بې مَل وي
پښتنه توکه" کومل" وي

کُل دولس شو سُرونه
نور ګوره آهنګونه

"ټهاټه" څۀ وي درته وایم
باچا وي درته ښایم

کُل لس دي ټول ټهاټهونه
اوځي تري ټول راګونه

جاري



www.pukhto.net

پۀ لسو اتفـــــاق دے
پۀ ډېرو کښې نفـــاق دے

پۀ لســـو اکتفـــا ده
خبـــره مُصفـــا ده

پۀ ټهاټهـ کښې به نور څۀ وي
سُـــــــرونه به اووۀ وي

پۀ ټهاټهـ کښـې"اروهي" وي
بـــــري له"امروهي"وي

ټهاټهـ نۀ زمـزمه کيـــږي
او نۀ به نغمه کيــــږي

راګـــــونه پۀ ســـوونو
ټول اوځي لۀ ټهاټهــــونو

جاري



www.pukhto.net

مقـــدار يې نامعلوم دے
هرڅوک پکښې معدوم دے

وړومبې ځل پښتنــو کښې
بيان مې کړل پښتــو کښې

معرفــي شو څــو لغات
کنـــايې او اشـارات



www.pukhto.net

And he emphasizes on Pashtuns unity;

اتفاق په پښتانه کښې داسې غواړم
لکه غاښ چې د ورې سره پېوند دې

I want kind of unity among Pashtuns
Likewise the relation of tooth & gum.

I shared some of the couplets from Khayaam's book, unless you read it all, you won't feel the beauty in it, so I suggest you read it with your heart because this is not just poetry it's his heart voice.

And finally I shouldn't forget to acknowledge his efforts and my appreciation for his loyalty and love for his own mother tongue Pashto & to say congratulations from the core of my heart for his great gift in the form of sweet poetry for all of us. I think this book will be a treasure & great addition towards the Pashto literature and I invite all the Pashto poetry readers & lovers to read it at once and to encourage him for more.

**Zahir Shinwari**
Cambridge Uk
18.05.2014



www.pukhto.net

O my heart ! What a beautiful scene of my killing
How in an eyes, beloved's telling everything to my killer

How easy is this for him to get the situation in hand;

چـــې د رقيب پۀ خـــونه اور اولگـــي
لاس دې پۀ لاسو کښې قربان غواړمه

Well, to make my rival more jealous
O beloved! Put your hand in my hands

This verse shows that how much he loves his soil;

خيامه زۀ يې په کمڅو کښې ږدمه
د خپلې خاورې څو گلان غواړمه

O Khayaam ! I put it in my hair plaits
Want just a few flowers of my own soil

With his whole heart praying for Pashtuns, may his prayers come true;

د عقل او شعـــور، علم او پـــوهې پـــوخ اساس
نيسيا يې درنه نۀ غواړم، پښتون له لاس په لاس

A foundation that made of brain & conscience, knowledge & wits
( O God ) I prefer it now for Pashtuns than to be delayed



www.pukhto.net

His humane heart cries for humans;

د انسان منګولې ګــــوره
د انسان په وینو سرې دي

Look at the hands of humans
Stained with the blood of humans

What he says about love;

د تاوان د کور خبره پکښــې نشته
محبت خو ټوله ګټه ده او سود دې

You lose nothing in love
Cause love's all profitable

Now he looks used to, bearing pain in love;

زۀ د مرګ سره عادت شوم
قتلول چې ستا عادت دې

Am so used to with death
When killing's your nature

It soothes my heart;

څۀ حسین منظر مې د وژلو دې زړګیه
یار زما قاتل ته پۀ لېمو چلونه ښا یي



www.pukhto.net

It provides guidelines for new writers. Collectively I found all in one what I have described above. Apart from being on his side and if I am exaggerating, will be criticized for. There is always raw & ripe thoughts you come across, reading people's work. Criticizing someone's few mistakes and not looking at his excellent job as a whole will be injustice. But I would say this young gentleman's talent looks older than his age. I felt his zeal & interest for his language and its literature. Poetry, genetically inherited in his blood but it's he who nurtured its roots and grew it as a big tree. I mustn't deny his hard work all along this journey. Here I want to share some of the patterns of his poems with the translation.....

His great hospitable heart says;

بیــرته دروازې لرم پښتــون یمه
راشه که دَ زړهٔ کورته راتلهٔ غواړې

Keep the doors opened, cause I am Pashtun
Come fearlessly to my heart if you want to

He's hopeful about bright tomorrow;

مونــږه پکښې نخښــې دَ سبا وینــو
مونږ ته که حالات زړهٔ کښې تیاره ساتي

We see the signs of a bright tomorrow in it
A gloom situation, whatever it holds for us



www.pukhto.net

Creating poetry is putting our feelings into words. Words in an impressive array like stitching embroidery in a craft. Somebody said it nicely, 'that a poem's the best words in the best order'. Later, time tunes these words and they can become beautiful songs. And it's all because of the colourful thoughts of a poet. A comparison of prose & poetry, is always difficult to go through in its explanation so as to say which one's favourable for readers, but for the most, poetry has always been a favourite of all time, and indeed Pashtuns are so keen & committed to it. As we know that most of the literature books written in Pashto language are the poetry books and characteristically the nature of Pashto poetry, is always about pure love, nationalism, religious & moral topics. Some of the poets did write about the late Pashtun heroes and their gallantry. As a Pashtun I feel deep affiliation with the art of poetry as it runs in my veins too.

This is absolutely wonderful poetry, reading some of the subtle poems, I am enchanted to read it all over again, I am lost in it like a wild butterfly. It's an artistic skill of someone, who has taken control of your senses and then spelled magic on your heart. Always remember that any job done fairly with the heart and mind, attracts and inspires others, I am one of them (inspired by his skills & spirit). words from the Arabic language, beautifully used where it was needed, this is why I feel the surge of his heartfelt poems. The standard, rhymes, metres, lines interaction and continuity all done beautifully. The phrases, metaphors and the twists and turns make this book fascinating.



www.pukhto.net